بسم الله الرحمن الرحيم

## کتاب پېژندنه


**د کتاب نوم:** د اقتصاد مبادي

**څانګه:** اداره او منجمنټ، بانکداري، محاسبه او د تجارت اقتصاد

**مولف:** نصیر احمد نادري

**ژباړن:** نور الله حقمل

**د څار کمېټه:**

- محمد آصف ننګ د تخنیکي او مسلکي زده کړو معین
- دیپلوم انجنیر عبدالله کوزاېي د تعلیمي نصاب رییس
- محمد اشرف وحدت په تعلیمي نصاب کې د معینیت د مقام سلاکار

**د تصحیح کمېټه:**

- محمد احسان احسان
- ماریا محب

**د ګرافیک او ډیزاین څانګې مسئول:** محمد جان علیرضایي

**ګرافیک او ډیزاین:** عبدالله شاهي

**چاپ کال:** ۱۳۹۲ لمریز کال

**تیراژ:** ۳۰۰۰ ټوکه

**چاپ ځل:** لومړی

**وېب پاڼه:** www.dmtvet.gov.af

**برېښنالیک:** info@dmtvet.gov.af

**کډ ISBN:** ۹۷۸-۹۹۳۶-۳۰-۰۸۵-۹



د چاپ حق د تخنیکي او مسلکي زده کړو له معینیت سره خوندي دی

# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی　　دا عزت د هر افغان دی
کور د سولې کور د تورې　　هر بچی یې قهرمان دی
دا وطن د ټولو کور دی　　د بلوڅو د ازبکو
د پښتون او هزاره وو　　د ترکمنو د تاجکو
ور سره عرب، ګوجر دي　　پامیریان، نورستانیان
براهوي دي، قزلباش دي　　هم ایماق، هم پشه یان
دا هیواد به تل ځلیږي　　لکه لمر پر شنه آسمان
په سینه کې د آسیا به　　لکه زړه وي جاویدان
نوم د حق مو دی رهبر　　وایو الله اکبر وایو الله اکبر

# د پوهنې وزارت پیغام

**ګرانو زده کوونکو، محصلانو او درنو ښوونکو!**

د یوې ټولنې وده او پرمختګ کاملاً د همغې ټولنې د پیاوړو کاري کادرونو، بشري قوې او ماهرو فکرونو په کار او زیار پورې تړلې دي. همدا بشري قوه او کاري متې دي چې د هیواد انکشافي اهدافو ته د رسېدو لارې چارې طی کوي او د یوه نېکمرغه، مرفه او ودان افغانستان راتلونکی تضمینوي.

انســان په خپل وار سره د الله تعالی له جانبه او هم د خپل انســاني فطرت له اړخه مؤظف او مکلف دی چې د ځمکې په عمران او د یوه ســوکاله ژوند د اســبابو او ایجاباتو د تکمیل لپاره خپل اغیزمن نقش، همدارنګه ملي او اسلامي رسالت ادا کړي.

لــه همدې ځایه ده چې د یوه ژوندي او فعال انســان نقــش، د خپل ژوند د چاپېریال او خپلې اړوندې ټولنې په اړه، تل مطلوب او په هېڅ حالت کې نه نفي کېږي او نه هم منقطع کېږي.

په ټول کې د پوهنې نظام او په خاصه توګه د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت مسوولیت او مکلفیت لري چې د اســلامي ارزښــتونو، احکامو او همداراز معقولو او مشروعو قوانینو ته په ژمنتیا سره، د افغانســتان په انکشاف کې فعاله، چابکه او موثره ونډه واخلي، ځکه دغه ســتر او ســپېڅلي هدف ته د رســېدو په خاطر د انساني ظرفیت وده، د حرفوي، مسلکي او تخنیکي کادرونو روزنه او پراختیا یو اړین مقصد دی. همدا په تخنیکي او مسلکي زده کړو مزین تنکي ځوانان کولی شي چې په خپلې حرفې او هنر سره په سیستماتیک ډول د هیواد انکشاف محقق او میسر کړي.

جوته ده چې په افغانستان کې د ژوند تګ لاره، دولتداري او ټولنیز نظام د اسلام له سپېڅلو احکامو څخه الهام اخیســتی؛ نو لازمه ده چې زموږ د ټولنې لپاره هر ډول پرمختګ او ترقي باید په علمي معیارونو داســې اســاس او بنا شي؛ چې زموږ د کارګر نســل مادي او معنوي ودې ته پکې لومړیتوب ورکړ شي. د حرفوي ظرفیت جوړونې تر څنګ د ځوانانو سالم تربیت او په سوچه اسلامي روحیې د هغوی پالنه نه یواځې پخپل ذات کې یوه اساسي وجیبه ده، بلکې دا پالنه کولی شي چې زموږ وطن پخپلو پښو ودروي، له ضعف څخه یې وژغوري او د نورو له سیاسي او اقتصادي احتیاج څخه یې آزاد کړي.

زموږ ګران زده کوونکي، محصلان، درانه اســتادان او مربیون باید په بشــپړه توګه پوه شي، چې د ودان او نېکمرغه افغانستان ارمان، یواځې او یواځې د دوی په پیاوړو متو، ویښ احساس او نه ستړي کېدونکي جد او جهد کې نغښتی او د همدغو مسلکي او تخنیکي زده کړو له امله کېدای شي په ډېرو برخو کې د افغانستان انکشافي اهداف تر لاسه شي.

د دې نصــاب له ټولو لیکوالانو، مولفینو، ژباړونکو، ســموونکو او تدقیق کوونکو څخه د امتنان تر څنګ، په دې بهیــر کــې د ټولو کورنیو او بهرنیو همکارانو له مؤثرې ونډې او مرســتو څخه د زړه له کومې مننه کوم. له درنو او پیــاوړو اســتادانو څخه رجامندانه هیله کوم چې د دې نصــاب په ګټور تدریس او فعاله تدریب سره دې د زړه په ټول خلوص، صمیمي هڅو او وجداني پیکار خپل ملي او اسلامي نقش ادا کړي.

د نېکمرغه، مرفه، پرمختللي او ویاړمن افغانستان په هیله

**فاروق وردګ**

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

| مخ | سرليکونه | څپرکي |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د اقتصاد د علم اساسي موضوعات | **لومړی** |
| ۱۹ | د اقتصاد د علم ويش او ډلبندي | **دويم** |
| ۳۱ | د اقتصادي دوران تيوري يا د اقتصاد دايروي جريان | **درېيم** |
| ۴۳ | کورنۍ لګښت تيوري | څلورم |
| ۶۰ | سرچينې او اخځليکونه | |

**مقدمه**

د اقتصاد علم یو تجربوي او ټولنیز علم دی چې د صنعتي انقلابونو زېږنده او له ټولنیزې بشپړتیا سره بشپړ شوی دی چې د انسان مادي چلند او کړه وړه مطالعه کوي.

په دې اســاس د اقتصاد د اســاسي مســایلو د زده کړې په موخه اړتیا احساسیدله چې د اقتصاد علم مبادي تر عنوان لاندې درسي کتاب تهیه او تدوین کړم تر څو وکړای شم محصلینو او د اقتصاد د علم  علاقمندانو ته د خدمت مصدر و گرځم. په کلي توګه د دې کتاب موضوعات او مطالب د لمړنیو اطلاعاتو په بڼه ګرانو محصلینو او لوستونکو ته وړاندې کیږي تر څو یې د بشپړو معلوماتو لپاره لاره هواره شوې وي.

د اقتصاد د علم مبادي کتاب په څلورو فصلونو کې تنظیم شوی دی چې لمړی فصل یې د اقتصاد د اساسي مفاهمو تر عنوان لاندې، دویم فصل یې د اقتصاد علم د طبقه بندي تر عنوان لاندې، درېیم فصل یې د اقتصاد دایروي جریان تر عنوان لاندې او څلورم فصل یې د کورنۍ یا مصرف د تیوري تر عنوان لاندې فصلونو ته ځانګړی شوی دی.

هیله ده د اقتصاد د علم مبادي د ګرانو محصلینو او قدرمنو استادانو د استفادې وړ وګرزي.

که په دې کتاب کې کومې نیمګرتیاوې شتون ولري نو سترګې دې نه ورباندې پټیږي بلکې په خپلو ګټورو  وړاندیزونو سره مو دویاړ تر څنګ همکاري وکړی.

با احترام

مسلک فهم نصیر احمد نادري
د ادارې و حسابدارۍ انستیټوټ استاد

# لومړی څپرکی

## د اقتصاد د علم اساسي موضوعات

**ټولیزه موخه:**

د اقتصاد د علم په تعریف او اهمیت باندې پوهېدل، د اقتصادي اصطلاحاتو او د اقتصاد د اساسي مفاهمو زده کړه.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي له ختمېدلو وروسته زده کونکي باید و پوهیږي چې:

- اقتصاد څه شی دی.
- اقتصاد څه اهمیت لري.
- د اقتصاد د علم اساسي موضوعات څه شی دي.

### د اقتصاد د علم تاریخچه

د اقتصاد علم چې نړدې دوه پېړۍ قدامت لري له ۱۷۷۶م کال نه وړاندې ورته د فلسفې او سیاست په څېر د یو لړ نورو علومو د یوې برخې په سترګه کتل کېده؛ خو په ۱۷۷۶ م کال کې برتانوي اقتصاد پوه ادم سمیت چې د ۱۷۲۳-۱۷۹۰ کلونو تر منځ یې ژوند درلود، د ملي ثروت په نامه یو کتاب خپور کړ چې په دې توګه د اقتصاد علم د یو بشپړ علم په صفت معرفي شو او له نورو هغو علومو څخه چې پخوا یې اقتصاد یوه برخه ګڼل کېده، استقلال او خپلواکي تر لاسه کړه. د یاد شوي کتاب په ترڅ کې ادم سمیت یو لړ اقتصادي نظریات بیان کړل چې له همدې کبله ورته د اقتصاد د علم پلار ویل کیږي.

ادم سمیت چې سکاټلنډي الاصله انګلیسي و، د اقتصاد په برخه کې یې د ورته علم کلاسیک مکتب یا نظر هم منځته راوړ.

هغــه په خپل کتاب کــې هڅه کړېده چې د اقتصاد د علم په برخه کــې یو لړ قوانین منځته راوړي تر څو وکړای شي (د انســاني ټولنې د نورو ستونزو ترڅنګ په ځانګړې توګه د هغوی طبعي ستونزو ته هم ځواب وویل شي (د ټولنو د ستونزو او اړتیاوو ځواب ویونکې وي په ځانګړې توګه د صنعتي ټولنو).

د اقتصــاد په برخه کې د کلاســیک مکتب د پیروانو په آند سرمایــه داري نظام په خپل سر یو بشپړ یا ایډیال نظام دی، خو په دې شرط چې حکومت د هغوی په اقتصادي چارو کې لاس وهنه ونکړي او هغه په خپل حال پرېښــودلی شــی. ادم سمیت عقیده درلوده چې فرد یا شخص د ټولو اقتصادي فعالیتونو د مرکزي هستې رول لري او فرد یا شخص پرته له دې چې په ورته مورد کې یې کومه ځانګړي لار ښــونه وشي په عقلي او شــعوري توګه هاند او هڅه کوي چې د شونتیا تر بریده خپلې منافع او ګټې پورته یوسي.

ســمیت عقیده لري چې که چیرته په اقتصادي امــورو کې کومه نا انډولي یا ټکنی وضعیت را منځتــه کیــږي پرته له دې چې په اړه یې کومې ځانګړې کړنــې ترسره شي، په طبعي توګه په خپل سر له منځه ځي. په دې معنا چې د یوه جنس د عرضې او تقاضا تر منځ د ټولنې له لوري د دغه جنس د تولید او مصرف کچه په طبعي توګه د دغه حالت د توازن یا انډول د ایجاد لامل ګرځي.

ادم سمیت عقیده درلوده چې د اقتصادي نا انډولۍ غیر مریي یا نالیدونکي اثرات د قیمتونو د میکانیزم په مرسته له منځه ځي او په دې توګه سپارښتنه کوي چې دولت دې په اقتصادي چارو کې لاســوهنه نکوي. باید و ویل شي چې ددې وړاندیز مطابق په نولســمه پېړۍ او د شلمې پېړۍ پــه لومړیو کې په اقتصادي چارو کې د حکومت د نه مداخلې له کبله سرمایه داري نظام له خورا نا وړه پایلو او شرایطو سره مخ شو او د انحصاري نظام او انحصاري رقابت په لور وخوځیده.

د ځینــې خاصــو ډلو یا افرادو په لاس کې د ثروت تمرکز په ټولنــه کې د نا انډوله ویش او بې عدالتۍ لامل وګرځیده. لکه څنګه چې په دې مورد کې د فردي او ټولنېزو سرچینو تر منځ همغږي شــتون نه درلود نو پایله دا شــوه چې د یو لړ را پارېدونکو سیاسي او ټولنېزو ستونزو د مخنیوي په موخه دولتونه په اقتصادي امورو کې په یو نه یو ډول دخالت ته واداره شول. ضمناً اقتصاد پوهان او د یاد شوي کلاسک نظر حامیان هم د ادم سمیت له لوري د مطرح شویو کلاسکو نظریاتو تعدیل ته اړ شول چې دغه تعدیل شوی نظر د نیوکلاسک نظر په نامه و نومول شي.

کله چې له ۱۹۲۳ م کال نه وروســته د برتانیــې او امریکا په ګډون د ځینې صنعتي هیوادونو اقتصادي بحران بېړني حد ته ورســیده او اړوند دولتونه د بحران د مهار کولو په وړاندې د کلاسکو او نیو کلاســکو نظریاتو له صحت څخه نا امیده شــول، په دې وخت یعنې ۱۹۳۶ م کال کې د کینز پــه نامــه د اقتصاد د علم نامتو عالم چې د ۱۸۸۳-۱۹۴۶ کلونو تــر منځ یې ژوند در لود د ګټې او

پیسو د اشتغال د عمومي تیوري په نامه یو کتاب خپور کړ. په دغه خپاره شوي کتاب کې یو لړ نوي اقتصادي نظریات مطرح شول چې له کلاسکو یا پخوانیو سره یې توپیر یا مغایرت درلود. کینز هڅه کوله ترڅو په کتاب کې د مطرح شویو اقتصادي نظریاتو په مرسته په یو نه یو ډول په یادو شویو هیوادونو کې د بیکارۍ د بحران علتونه بیان کړي. کینز وړاندیز وکړ چې دولتونه دې په اقتصادي امورو کې ګډون وکړي، د یوه رښتیني لارښود او مربي په حیث دې په اقتصادي چارو کې ښکېل شي او د پلان جوړونې سیاست په ګډون دې دغه مسؤلیتونه په غاړه واخلي.

هغه وړاندیز وکړ، د دې لپاره چې په هیواد کې د بېکارۍ ستونزه حل شي او د هیواد صنعت له توقف او زوال څخه وژغورل شي، پکار ده چې دولت د بیکارۍ د له منځه وړلو ستونزه هواره کړي. د ده په آند بیکاري په دې بهیر کې خورا مهم رول لري او د کاري فرصتونو ایجاد او د مختلفو اقتصادي برخو یا سرچینو ترمنځ د همغږۍ منځته راوړل د دولت له مهمو دندو څخه شمېرل کیږي او اقتصادي بحران هغه مهال مهار کیدی شي چې د بیکارۍ ستونزه له منځه لاړه شي. د دغې ستونزې له هواریدلو سره د هیواد د وګړو مالي او اقتصادي وضعیت غښتلی کیږي چې په پایله کې هغوی کولای شي د خپلو عوایدو یوه برخه د خپلو اقتصادي اړتیاوو رفع کولو او یوه برخه یې پس انداز او سپما ته ځانګړې کړي.

د هغو وړاندیزونو او لارښونونو له برکته چې د دغه عالم له لوري پشنهاد شوي وو په خورا لږ وخت کې له اروپا او نورې صنعتي نړۍ څخه د اقتصادي بحران ملن ور ونغښتل شوه. د اقتصادي نظریاتو له جملې څخه یو هم د مارکیسزم نظریه ده چې په ۱۸۶۸م کال کې یې د کارل مارکس له لوري بنسټ کیښودل شو. مارکس په ۱۸۶۸ ام کال کې د کاپیټال یا ثروت په نامه یو کتاب خپور کړ چې د سرمایه داري نظام په وړاندې د نیوکو او انتقادونو طوفاني بهیر پکې چورلیز یا محوري رول درلود. مارکس د کلاسکو اقتصاد پوهانو په عقایدو چې مخکې ورنه یادونه وشوه، نیوکه کوي او ټینګار یې کاوه چې ګواکې هغوی یوازې اثباتي اقتصاد یا Positive Economics ته ترجیح ورکوي، په داسې حال کې چې د ټولنېزو اقتصادي ستونزو د هوارېدلو لپاره پکار ده چې له دستوري اقتصاد یا Command Economy څخه استفاده وشي.

نو باید و ویل شي چې یاد شوي درېواړه اشخاص نه یوازې دا چې د اقتصاد د علم د پرمختګ او بدلون په برخه کې مخکښ رول لري، بلکې د هغوی نظریات او اقتصادي عقاید په ورته بهیر کې د اقتصادي تیوریو او مکاتبو د منځته راتلو او ایجاد لامل هم شویدي. په دې معنا چې ادم سمیت د کلاسیک، جان بنارډ کینز د کینزین او په آخر کې کارل مارکس د سوسیالیزم او کمونیزم د مکتب بنسټ ایښودنکی هم شمېرل کیږي.

## د اقتصاد د علم تعریف او پېژندنه Definition of Economy

بشري ټولنه د خپل ژوند د بقا او پایښـــت په موخه د خوراک، څښـــاک، لباس، مســـکن یا کور، درملـــو، صحي، فرهنګي او ترانســـپورټي خدمتونو په څېر یو لړ نورو اســـانتیاوو ته اړتیا لري. لکه څنګـــه چې له یوې خوا د کیفیت یا څرنګـــوالي له مخې د وګړیو اړتیاوې او احتیاجات ورځ تر بلې ورځـــې زیاتوالـــی او پراختیا مومي، له بله لوري د دغو نعمتونو کچه چې په مټه یې یادې شـــوې اړتیاوې پوره کېدلای شي محدود شـــکل لري. همدغه د پرېمانه بشري اړتیاوو او محدودو سرچینو جنجالي نقطه ده چې د اقتصاد د علم اســـاس او بنســـټ تشکیلوي. همدغه د محدودو سرچینو په وړاندې د شـــیانو او خدمتونو تولید، د هغوی د توزیع، تبادلې او په پای کې د هغوی د مصرف او استهلاک په څېر د یو لړ اساسي موضوعاتو څېړنې او مطالعې ته په لنډه توګه اقتصاد ویل کېږي.

د اقتصاد علم په پراخه توګه په لاندې ډول هم تعریف کولای شو.

پورتنیـــو توضیحاتو ته په کتنې سره اقتصاد د ســـازمانونو او فني لارو چارو له هغې مجموعې څخه عبارت دی چې په مټه یې انســـان کولای شي د خپلو اړتیاوو د رفع کولو لپاره وســـایل جوړ کـــړای شي. د بـــشري اړتیـــاوو زیاتوالی او د تولید د لاملونو محدودیـــت د اقتصاد په علم کې خورا اســـاسي موضوع ګڼله کېږي. د پورتني قول یا وینا په اســـاس کولای شـــو د اقتصاد علم دا ډول هم تعریف کړو:

– د اقتصـــاد علم لـــه هغه علم څخه عبارت دی چې د فـــردي او اجتماعي حقوقو په رڼا کې، د عدالـــت لـــه مخې د تولید لاملونـــه (ځمکه، کار، سرمایه، فني معلومات او داســـې نور) د تولید، تبادلې، توزیع او مصرف په بڼه د بشري اړتیاوو د رفع کولو لپاره په موثره توګه تنظیم کړای شي.

د اقتصـــاد د علم په برخه کې یو لړ نور تعریفونه هم شـــتون لـــري چې له هغې جملې څخه ځینې یې په لاندې ډول دي.

- ادم سمیت د یوې بشری ټولنې د ثروت او هستۍ د زیاتوالي لپاره د اقتصاد علم د یوه تحقق او څېړنې په صفت پېژني.
- لاینل رابینز د اقتصاد علم ته د شیانو او خدمتونو د تولید لپاره د محدودو سرچینو او لاملونو د اختصاص یا ځانګړنې د پوهې په سترګه ګوري.
- لودیـــک ډان د مختلفو سرچینو د محدودیت له نقطه نظره د اقتصاد علم د عاقلانه پرېکړو د کولـــو لپاره د یوه منطق په صفت پېژني. البته داســـې یو منطق یا پوهه چې په درلودلو سره یې انســـان په اقتصـــادي چارو کې له خطا ایســـتلو څخه ژغورل کېدای شي. د اقتصـــاد علم د ټاکلو یا انتخاب علم او پوهه هم ده چې په مرسته یې وګړي پوهه تر لاسه کوي چې په څه توګه انتخاب وکـــړي او د تولیـــد محدودې سرچینې چې له ځمکې، کاري قوې، پوهـــې او تجهیزاتو څخه عبارت

دي، د غوښي، لباس، کور او داسې نورو په څېر د بېلابېلو شيانو د توليد لپاره په څه توګه استعمال کړي چې بيا دغه شـيان د ټولنې د افرادو تر منځ د مصرف لپاره توزيع کيږي؛ خو بايد و ويل شي چـې معاصر اقتصاد پوهان د اقتصاد د علم په هکلــه د لاندې هغه په څېر يوازې په يوه تعريف باندې سره موافق شويدي.

(د مصرف او اســتهلاک لپاره د مختلفو جوامعو او افرادو تر منځ د بېلابېلو شــيانو او خدمتونو د توليــد په موخه د مختلفو محدودو سرچينو د اســتخدام، کارونــې او د دغه انتخاب د څرنګوالي پوهې ته اقتصاد ويل کيږي).

## د اقتصاد د علم اهميت Importance of Economic

د اقتصاد علم يوه ټولنېزه پديده ده په دې معنا چې د بشري ټولنې اقتصادي پېښې او انګيزې مطالعــه کوي او له ژونــد سره سروکار لري. له همدې امله په لاندې ډول د اقتصاد د علم مطالعه له دريو لوريو د اهميت وړ ده.

۱.د يوه علم په صفت د اقتصاد د علم زده کړه په خپل ذات کې يو ګټور او په زړه پورې کار دی، چــې کــولای شي له بشر سره د مغلق طبيعت په پېژندلــو او د پيچلو ميتوديکو موضوعاتو په شننه کې همکاري کوي.

۲. د اقتصادي پوهې په درلودلو سره کولای شــو د روزمره شــخصي ژوند له زياتو مســايلو او پېښــو څخه د بررسۍ ترڅنګ له شخصي اقتصادي وضعيت څخه هم عيادت وکړای شو، چې دغه پوهه په خپل وار سره په خصوصي ژوند کې خورا ګټور رول درلودلای شي. دغه علم د پير او پلور، مصرف، ســپما، صنعت، تجارت، کارموندنې، بېکارۍ او داســې نورو مســايلو په برخه کې تر ډېره بريده موږ ته لارښــونه کوي چې په خپل وار سره د دغې پوهې په مرســته کولای شو د اړتياوو په اساس مناسبې پرېکړې وکړای شو.

۳. په فطري توګه د ټولنې د يوه غړي په حيث هر څوک په شــخصي او کورنيو مسايلو برسېره د هيواد او ټولنې د عمومي او ســياسي وضعيت په باره کې هم فکر کوي، د ټولنې له ســتونزو او مشــکلاتو څخه ليدنه کوي او شــونتيا تر حده د چارو د اغيزمنتوب او ســتونزو د هوارېدلو هڅه کوي. د دې لپاره چې يو هيواد اجتماعي انکشــاف وکړي او يا اقتصاد يې وده ترلاســه کړي، پکار ده چــې د مــلي محصولاتو کچه زياته شي، خلکو او ټولنې ته کاري فرصتونه برابر شي، د شــيانو په نرخونو کې ثبات راشي، د علم او تخنيک سطحه او چته شي، د تادياتو د بيلانس انډول وساتل شي، په انډول کې د تادياتو د بيلانس په هکله د ګټورو تصاميمو د نيولو او داسې نورو مهمو اقتصادي موضوعاتو په هکله مناســب تصاميم ونيول شي چې يوازې د اقتصادي پوهې د درلودلو په واسطه

کولای شــو د ټولني او هیواد له اقتصادي ژوند سره په تړاو د ټولو موضوعاتو شــننه او یوه مثمره ارزیابي وکړو تر څو په اقتصادی ستونزو چې په مجموع کې د ټولو بشري ستونزو جرړه ګڼل کیږي، بری وموندل شي.

بایــد وویــل شي چې اقتصاد د یوې ټولنې میتودیکه موضــوع ده اما کومه حرفوي موضوع نه ده. نــو پــه دې اســاس د اقتصاد د علم لــه زده کړې نه یوازې دا توقع پکار نــه ده چې یو پوه او بریالی سوداګر او یا یو ماهره اقتصادي متشبث جوړ شو، اقتصاد نه یوازې دا چې موږ ته د پیسو د موندلو هنر را زده کوي، بلکې د اقتصاد د علم په درلودلو سره کولای شــو د خپل هیواد لپاره د یوه ښه مشاور یا رهبر کیدلو شیبې ته هم له هیلو ډک انتظار وباسو.

## د اقتصاد درې اساسي موضوع ګانې

### ۱.په کومه اندازه او څه ډول شیان او خدمتونه تولید شي؟

لکــه څنګــه چې له یوه لوري د تولید لاملونه نســبتاً محدود او له بلــه لوري بشري اړتیاوې نا محدود شــکل لري، نو دا چې څه ډول شــیان او خدمتونه تیار او تولید شي یو ځانګړي تصمیم ته اړتیا لیدل کیږي، تر څو وکړای شو پرېکړه وکړو چې څه ډول نور خدمتونه تولید شي. همدا شان د تولید د سرچینو د قلت له کبله ځینې شیان شته چې تر نورو شیانو په لږه یا زیاته پیمانه تولیدیږي، نو په دې اساس د هر شي د تولیدي مقدار په باره کې هم باید یو ځانګړی تصمیم و نیول شي.

### ۲. شیان باید څنګه تولید شي؟

د دې پوښــتنې ترڅنګ چې څه ډول شــیان باید تولید شي او د تولید کچه یا اندازه یې څومره وي، په اقتصاد کې دغه اساسي پوښتنه هم زیاته مطرح کیږي چې دغه د اړتیا وړ توکي او خدمتونه دې د چا او یا کوم شرکت په واســطه تولید شي، د تولید په برخه کې دې له کومو سرچینو او کوم تولیدي فن څخه اســتفاده وشي او یا دې د تولید لپاره کوم ډول پر مختللي عصري تکنالوژي پکار ولویږي.

لکه څنګه چې تولید شــویو توکیو او خدمتونو کیفیت او څرنګوالی په بشــپړه توګه د تولید د منابعو او د تولید د فني میتودونو په ترکیب یا امتزاج پورې اړه لري، نو له هرڅه نه مخکې غوره دا ده چې د تولید د منابعو او د تولید د فني میتودونو په باره کې څه نا څه معلومات ولرو.

د تولید سرچینې له هغو تولیدي وســیلو څخه عبارت دي چې د مختلفو شــیانو او خدمتونو د تولید لپاره پکار وړل کیږي.

**د تولید فني روېش یامېتود:** چې په حقیقت کې د شــیانو د تولید په موخه د شــته یا اړینې

پوهــې پــه رڼا کې د تولید د لاملونو له کارولو څخه عبارت ده، تحقق یې یو فرد یا شرکت ته وړتیا ورکوي تر څو دا ډول مطرح شوې پوښتنې ته ځواب و وایې چې د کومو تولیدي سرچینو او تولیدي فنونو له ترکیب څخه دې انتخاب شوي شیان او خدمتونه تولید شي.

### ۳.دغه شیان او خدمتونه دې د چا لپاره تولید شي؟

په دې ځای کې د افرادو، کورنیو، دولتي یا خصوصي ســکتورونو او داسې نورو تر منځ د تولید شویو توکیو او خدمتونو د توزیع معیار او نظم هم تر پوښتنې لاندې راځي او یا په بل عبارت: په دې ځای کې دا موضوعات چې شــیان او خدمتونه د کومو اشــخاصو او طبقاتو لپاره تولید او تیار شــویدي، د ملي تولید کومه اندازه د مصرف او اســتهلاک لپاره ځانګړې شوېده، لدې جملې څخه کومــه اندازه یې د نوي تولیــد او سرمایه ګذارۍ یا **investment** لپاره ځانګړې شــوېده؟ د بحث مهمه ونډه تشکیلوي.

یوه ټولنه باید دا ډول پوښــتنو ته د ځواب ویلو هڅه وکړي که و پوښــتل شي ملي تولید باید څنګــه د افــرادو او جوامعو تر منځ په برابره او یا نا برابره توګه و ویشــل شي، که چیرته نا برابره ویش په نظر کې نیول شوی وي، د کومو معیارونو او اصولو له مخې دې تقسیم او توزیع شي؟

په حقیقت کې هر ډول اقتصادي نظام له دا ډول پوښــتنو سره مخ کیږي، فقط د ځواب ویلو طــرز او ډول یې یو تر بله توپیر لري ځکــه چې هر یو نظام د خپل ایډیالوژیکي چوکاټ او پتییل شویو اصولو په رڼا کې ځواب وایي.

د ازاد بــازار یــا سرمایه دارۍ په اقتصادي نظام کې دریو ســوالونو ته ګوته نیول کیږي چې په بازار کې د قیمتونو میکانیزم یې ځواب ویلای شي.

**د بېلګې په توګه:** فرض کړی تاســو غواړئ د سباناري لپاره یوه لومړۍ درجه هوټل ته لاړ شئ او هلته پیزا وخورئ، خو په دا ډول هوټلونو کې د نرخ د لوړوالي او ستاسو د مالي ناتوانۍ له کبله نشــئ کولای دغه غریزه یا غوښــتنه تر سره کړئ، په عوض یې تاســو یوازې په یوه همبرګر باندې اکتفا یا بسنه کوئ، نو په همدې اساس دا چې څومره خلک یا کسان کولای شي پیزا د سباناري لپاره مصرف کړي، پخپله د پیزا قیمت یې شمېره تعین کولای شي.

نا ویلي دې نه وي پاتې چې د بېلابېلو ډلو یا خلکو مالي توان هم د **price mechanism** یا د نرخونو د میکانیزم د روېش یا طریقې په واسطه تعینېدلای شي.

په سوسیالســت یا اشــتراکي نظام کې دغه ډول پوښتنو ته د ځواب ویلو دنده یوازې د تصمیم نیولــو مرکزي کمســیون تــه ور په غاړه کیږي. دغه کمســیون د هــر کال په پیل کــې د تولید د پروګرامونــو نقشــه طرحه کوي، د ټولنې د افرادو ترمنځ یــې د تولید او توزیع د څرنګوالي له پلان

سره جوخت په یوه ځای اعلانوي.

د اسـلام پـه اقتصادي نظام کـې بیا ورتـه اقتصادي سـوالونه یوازې د شریعـت او موجوده دسـتورالعمل پـه چـوکاټ کې ځواب کیږي. د مثال پـه توګه د الکولي مشروباتو پـه څېر د یو لړ تولیداتو تولید د اسـلام په مقدس دین کې حرام ګڼل شوی دی، نو هیڅکله اجازه نه ورکول کیږي چې دا ډول توکي تولید شي بلکې د دې په عوض پکار ده چې د غنمو او داسې نورو په څېر هغه توکـي تولیـد شي چې تولید یې په ټولنه کې اړیـن او ضروري وي. د دغه ډول تولیداتو تولید کچه هم په بازار کې د حاکم **price mechanism** یا د قیمتونو حاکم میکانیزم په واسطه تعینېږي.

البته اسلامي دولت کولای شي د ځینې توکیو د تولیدي اړتیا له مخې د نرخونو په میکانیزم کې ګډون وکړي. د اسلامي اقتصادي نظام د ټولنو او جوامعو ترمنځ د تولید شویو شیانو، خدمتونو او ټولنېز عاید د عادلانه ویش او توزیع لپاره کوټلي اصول او قوانین په نظر کې لري چې له مخې یې د ټولنې ټول وګړي پرته لدې چې کسـبي فن او یا د کاري اسـتعداد نشتوالی یې په نظر کې ونیول شي له ملي تولید څخه سهیم یا برخمن کیدای شي.

## اقتصادي اصطلاحات Economical words and phrases

د هـر علـم د زده کـړې لپـاره ضروري ده چې د اړوند علـم له ځینې مهمـو اصطلاحاتو او ترمینالوژۍ سره اشـنایي پیدا شي. په همدې اساس اړینه بریښي چې د اقتصاد له اساسي مطالعې نه مخکې د ورته علم له یو لړ اصطلاحاتو سره په لاندې توګه بلدیت پیدا کړو.

- **تولیـد:** تولید له هغې عملیې څخه عبـارت دی چې په ترڅ کې یې د وګړیزو اړتیاوو د رفع کېدلو په غرض شـیان او خدمتونه منځته راځي او په پایله کې مالونه او خدمتونه ترلاسـه کیږی. په بل عبارت: د تولید له کلمې څخه مراد په حقیقت کې د یوه تولیدي لامل د ارزښـت زیاتېدل، د شـیانو جوړښت او اسـتخراج، فعالیت ته د وګړو راښکل، له خوسا کېدلو څخه مخنیوی، پخېدل او بشپړېدل دي.

د پورتنیو توضیحاتو په رڼا کې ویلای شو، تولید له هغې عملیې څخه عبارت دی چې د وخت، مکان، شکل او په ملکیت کې د تصرف له نظره د ګټورتوب او مطلوبیت لامل ګرځي.

- **د تولیـد لاملونه:** هغه توکي چې په طبیعت کې شـتون لري، تر ډېره ځایه په طبیعي توګه ګټې اخسـتنې ته اماده نه وي، له همدې کبله بشر د خپلو اړتیاوو د رفع کولو او د ګټو د اصالت په موخه د همدغو خامو توکو شـکل او بڼې ته بدلون ورکوي. د تولید او بڼې د بدلون لپاره پکار ده چې دغه خام توکي یا د تولید لومړني لاملونه په مناسبه توګه یو تر بله ترکیب شي. په دې اساس د تولید لاملونه په لاندې توګه تعریف کولای شـو. د تولید لاملونه له هغو توکیو څخه عبارت دي

چې د شیانو او خدمتونو د تولید په پروسه کې پکار وړل کیږي. په عمومي توګه د لاملونو اصطلاح څلورو عاملینو ته منسوبیږي چې هر یو یې په لاندې ډول تشریح کیږی.

**۱.ځمکه:** ټولې هغه سرچینې چې طبیعت د بشر په واک کې ورکړې او له هغو څخه د انسان په ګټه استفاده کیږي د ځمکې په نامه یادیږي. د اوبو د انرژۍ سرچینې، مصرفي زېرمې، طبعي نباتات، کرنیزې غلې دانې، ځنګلونه او داسې نور. البته هغه قیمتونه چې له ځمکې څخه د استفاده کولو په مقابل کې تادیه کیږي، د رنټ یا د ځمکې د اجارې په نامه یادیږي.

**۲.کار:** کار له هغه فزیکي او دماغي فعالیت څخه عبارت دی چې موخه یې د ژوند لپاره د اړینو توکیو او خدمتونو له تولید او منځته راوړلو پرته بل څه نه وي. هغه قیمت چې د کاري قوې په مقابل کې تادیه کیږي، د مزد په نامه یادیږي.

**۳.سرمایه:** که چیرته کار او ځمکه د تولید د دوو طبعي لاملونو په صفت و نوموو، نو سرمایه له هغو ټولو آلاتو او وسایلو څخه عبارت ده چې د انساني فعالیت په پایله کې منځته راغلې او د تولید په پروسه کې ورنه د آلاتو او اوزارو په بڼه استفاده کیږي. په بل عبارت: سرمایه له هغې تولید شوې تولیدي وسیلې څخه عبارت ده چې د تولید په پروسه کې تربڼه استفاده کیږي، په یوه ځل له منځه نه ځي بلکې په تدریجي توګه له منځه ځي او خپل ارزښت له ګټورتوب سره یو ځای تولیدي محصولاتو ته لیږدوي. په دغه لړ کې تعمیرات، ماشین آلات، تولیدي تجهیزات او داسې نور د سرمایې د بېلګې په توګه وړاندې کولای شو

**۴.منجمنټ یا تشکیلات:** له هغو بشري استعدادونو څخه عباردت دی چې د تولید د پروسې د ټاکلو، د تولید د موخو او اهدافو د تعین او د تولید د دریو لاملونو د ترکیب (کار، ځمکه، سرمایه) په برخه کې د تصمیم نیولو دنده او مسؤلیت په غاړه لري.

- **ثـروت Wealth:** د انسان له وجود نه پرته ټول هغه مادي توکي چې ذاتاً ګټور، د تصرف وړ او نسبتاً لږ موندل کیږي د ثروت په مفهوم کې شامیلیږي. ځمکه، معدني سرچینې، فابریکې، ماشین آلات، مالونه او خدمتونه، تجارتي مالونه، د حمل و نقل وسایل، پیسې، د ملکیت اسناد او په عمومي توګه هغه شیان چې پولي ارزښت ولري په ثروت کې شامیلیږي. همدا شان د یوه هیواد ښکلې منظرې او اقلیم هم ثروت ګڼل کیږي.

- **عایـد Income:** عاید یا درآمد په عمومي توګه پولي حاصلاتو او نورو مادي سرچینو ته ویل کیږي چې د سرمایې د ګردش او یا انساني فعالیت په نتیجه کې منځته راځي. لکه مخکې چې ورنه یادونه وشوه، ثروت د مختلفو اقتصادي توکیو ترکیب ته ویل کیږي، اما د هر ډول ثروت له درکه

لاســته راغلی عاید یا درآمد ځانګړی نوم لري، په دې معنا چې د ځمکې له درکه لاسته راغلي عايد تــه رنــټ یا اجاره، د کور او منازلو له درکه لاســته راغلي عاید ته کرایــه، د نغدي سرمايې له درکه ترلاسه شوي عاید ته سود یا ربح او د کار یا بشري فعالیت له درکه لاسته راتلونکي عاید ته معاش یا مزد ویل کیږي.

عایــد یا عواید تر ډېره ځایه په پولي توګــه تصور کیږي، خو د اقتصاد د علم پوهان بیا معمولاً عایدات له دريو لوريو مطالعه کوي چې هر يو يې په لاندې توګه تشريح کيږي.

**ا لــف- پولي عایــد Money income**: دا ډول عاید له هغــو عایداتو څخه عبارت دی چې د مروجــو پولي واحداتو په واســطه اندازه کیږي. په بله وینا پولي عایــد یا درآمد له هغه عاید څخه عبارت دی چې یو شخص یې د یوې زمانې په اوږدو کې پیدا کوي.

**ب- حقیقي عاید Real income**: حقیقي عایدات د پیسو د مقدار مفهوم نه پیاده کوي بلکې له هغو خدمتونو او جنســونو څخه عبارت دی چې اشــخاص یې د خپلو پیســو په مرســته ترلاسه کولای شي، چې په دې ترتیب سره پولي عاید د هغه د اخستلو یا رانیولو د قدرت په حساب اندازه کیــدلای شي. د پــولي او حقیقي عاید تر منځ بېلتــون او جلاوالی خورا مهمه موضوع ده او نه باید داســې تصور او انګیرنه وشي چې ګواکي یو شــخص په یوه ټاکلي زمان کې زیات پولي عواید ترلاسه کــوي نــو حتماً به په هغه اندازه زیات اقتصادي توکي هم خریداري کړای شي، ځکه امکان لري په هغــه زمانه کــې د توکیو قیمتونه لوړ شي. برعکس که په پولي عوایــدو کې د نرخونو د ټیټوالي له کبله تنقیص یا لږوالی راغلی وي دا معنا نه لري چې ګواکي د دغه شــخص په حقیقي عوایدو کې هم لږوالی راغلی دی.

**ج-روحــي عاید یا Psychic income**: رواني، روحي یا معنوي عاید له هغه غیر مادي رضایت څخــه عبــارت دی چې د اقتصادي ځواک له بايللو څخه حاصلیــږي . په بل عبارت دغه ډول عاید هغه لذت او خوشــحالۍ ته ویل کیږي چې افراد یا وګړي یې د مصرف په مقابل کې د شــیانو او خدمتونو له حصول یا لاسته راوړنې څخه ترلاسه کوي.

- **پیسې یا Money**: پیسې له هغې وسیلې څخه عبارت دي چې د شیانو د رانیولو لپاره په یوه معینه ســاحه کې د ســند په توګه منل شوې وي او یا په بل عبارت پیسې د تبادلې هغه وسیله ده چې هر چاته د منلو وړ وي. پیسې د فلزي، کاغذي، کتبي او داسې نورو په څېر زیات ډولونه لري.

- **تقاضا یا Demand**: ځینې کســان د تقاضا اصطلاح له غوښــتنې او هیلې سره مترادفه او یو شــان تعبیروي. د مثال په توګه: کله چې ویل کیږي د یوه شي تقاضا زیاته شوېده، مراد ترېنه دغه مفهوم وي چې ګواکي د دغه شــې په وړاندې غوښتنې او هیلې زیاتې شوېدي، په داسې حال کې

چې اقتصاد پوهان بیا دغه اصطلاح د یوه ځانګړي مفهوم د پیاده کولو لپاره استعمالوي، د دوی په آند له قیمت نه پرته د تقاضا د لفظ استعمال کوم مفهوم نه لري. په دې معنا چې د اقتصاد په علم کې د تقاضا اصطلاح د دې ترڅنګ چې د غوښتنې او ارزو معنا شیندي، ضمناً په معین قیمت سره د یوه شي د رانیولو د قدرت معنا هم پیاده کوي. پورتنیو توضیحاتو ته په کتنې سره کولای شو تقاضا په لاندې ډول تعریف کړو.

تقاضا له یو لړ اقتصادي توکیو څخه عبارت ده چې په یوه معین وخت کې په معین قیمت پیرل کیږي، چې ځینې وخت د بازار تقاضا هم بلله کیږي. د بېلګې په توګه په یوه معین وخت کې چې د ۷ کیلوګرامه اوړو بیه ۸۰ افغانۍ وي، کولای شو و وایو چې د ۷ کیلوګرامه اوړو لپاره د بازار تقاضا ۸۰ افغانۍ ده.

- **عرضه یا Supply:** د پولي اقتصاد له مخې عرضه هم د تقاضا په څېر یوه ځانګړې معنا لري، چې یوازې د مالونو او زېرمو د شتون مفهوم نه پیاده کوي. نو په دې اساس د عرضې محدوده معنا د یو شمېر اقتصادي توکو له شتون څخه عبارت ده چې په یوه معین وخت او بازار کې په ټاکلي قیمت پلورلو ته وړاندې کیږي. په داسې حال کې چې د یوه پراخ مفهوم له مخې د عرضې معنا له هغو اقتصادي توکیو څخه عبارت ده چې په بېلابېلو قیمتونو سره بازار ته د پلور په موخه وړاندې کیږي.

- **توزیع یا Demand:** توزیع د وګړیو ترمنځ د ملي عاید له ویش څخه عبارت ده. ملي عاید د هغو ټولو اقتصادي توکیو او خدمتونو مجموعې ته ویل کیږي چې د یوه معین دوران (یو کال) په اوږدو کې په هیواد کې تولیدیږي.

- **ارزش یا Value:** د یوه شي مفهوم له مفیدیت یا ګټورتوب سره نژدې اړیکي لري. د دې لپاره چې یو جنس ارزښت لرونکی و اوسي، پکار ده چې نوموړی جنس د ګټورتوب یا مفدیت او کمیابۍ په څېر دوه مهم خصوصیات په ځان کې ولري. نو په دې اساس کولای شو ارزښت په لاندې توګه تعریف کړو.

ارزښت د تبادلې په وخت کې له هغه ځواک او توانمندۍ څخه عبارت دی چې یو جنس یې د بل جنس په مقابل کې لري. د مثال په توګه: د barter system یا جنس په جنس معاملې په ترځ کې یو من غنم د یو پاو چایو په مقابل کې تادیه کیږي، نو ویلای شو چې د یو من غنمو ارزښت یو پاو چای دی او یا د یو پاو چایو ارزښت یو من غنم کیږي.

- **قیمت یا Price:** که چیرته د شیانو او خدمتونو د رانیولو په بدل کې کوم بل جنس ور نکړل شي او د هغه پرځای پیسې ورکړلی شي یعنې د یوه جنس ارزښت د پیسو په توګه ظاهر شي،

همدغې اندازې پيســو ته د هماغه جنس قيمت ويل کيږي. په بل عبارت، د پيسو په مقابل کې د يوه جنس ارزښت ته د هغه جنس قيمت ويل کيږي.

- **ګټورتــوب يــا Utility:** ګټورتوب يــا مطلوبيت د بشري اړتياوو د رفع کولو له اســتعداد او توانايۍ څخه عبارت دی. په بل عبارت مفيديت د توکيو له هغه خاصيت څخه عبارت دی چې په مټه يې همدغه توکي د انســان د ميل جوګه کيدای شي. نو ويلای شو هر کله چې يو توکی وکړای شي د انسان غوښتنې پوره کړي، ښکاره ده چې د ګټور توب له خاصيت څخه برخمن دی.

- **امتعه يا Goods:** امتعه د حوايجو او اړتياوو د رفع کولو هغو وســايلو ته ويل کيږي چې د شرکتونو له لوري توليديږي او په دوو ډولونو ويشل شوېده.

  ۱- اقتصادي توکي.

  ۲- اقتصادي خدمتونه.

- **احتياج يا Want:** احتياج يا اړتيا د قلت يا لږوالي له احساس څخه عبارت دی، په داسې ډول چې د قلت دغه احساس د هغه د له منځه وړلو له هڅې سره ملګری وي.

- **نافعت ياProfitability:** که چيرته د يوې دورې د حاصل پايله له سرمايې سره په تړاو پرتله شي، نافعت لاسته راځي.

- **اقتصاديت:** که چيرته يو ځانګړی فعاليت يا شيان د لږو وسايلو يا سرچينو د استعمال په ترڅ کې منځته راشي، دغې پېښې ته اقتصاديت ويل کيږي.

- **مولديــت يا Productiveness:** د مصرف کېدونکو سرچينو او لاســته راتلونکو فعاليتونو تر منځ ګټورې اړيکې ته مولديت ويل کيږي.

- **اســتهلاک يا Consumption:** اســتهلاک د اقتصادي توکيو او شيانو له منځه وړل کېدلو ته ويل کيږي او يا د ارزښتمندو اقتصادي توکيو د قيمت د لېږوالي په واسطه د اړتياوو رفع کېدلو ته استهلاک ويل کيږي.

- **تبادله يا Exchange:** د شــيانو او پيســو په وړاندې د شــيانو او اقتصادي خدمتونو ورکړې ته تبادله ويله کيږي. د پيســو له ايجاد يا منځته راتلو نه مخکې تبادلې د جنس په جنس په توګه صورت درلود، چې دغه ته Barter system of Exchange ويل کېده، خو کله چې تمدن پرمختګ وکړ او پيسې ايجاد شوې نو پيسې د تبادلې ذريعه (وسيله) وګرزيدې او barter system ورو ورو خپل اهميت له لاسه ورکړ.

## د اقتصادي تفکر زمینه

څرګنده ده چې په ۱۷۷۶ ام کال کې د ادم سـمیت لـه لوري د ملتونو د ثروت یا (National Wealth) په نامه د کتاب له خپرېدلو سره د اقتصاد علم د یوه بشپړ او مستقل علم په بڼه تعریف شـو. نـو ځنګه چې اقتصـاد د ریاضیاتو په څېر د قدیم علم کومه څانګـه هم نه ده، نو پکار ده چې د نورو علومو په څېر ځانګړي تفکري منشا ولرلای شي. لکه څنګه چې د اقتصاد په علم کې د روان پوهنې، ټولنپوهنې، سیاست او داسې نورو په څېر وګړیز کړه وړه او مادي سلوک تر مطالعې لانـدې نیـول کیږي چې له یادې مطالعې نه په اسـتنباط سره د اقتصـاد پوهانو تفکري زمینې په لاندې ډول دي.

**۱. کمیـابي Scarcity:** کمیـابي یا د سرچینو لږوالـی د اقتصاد له خورا مهمـو موضوعاتو څخه عبارت ده. د اقتصاد په علم کې د کمیابۍ مقصد دا دی، هر څه چې وګړي یې د بسنې تر بریده غوښـتونکي دي، نلـري. کمیـابي د کوم فزیکي معیار په واسـطه نشي اندازه کیدای. شـونې ده یو ځمکپېژانده و وایي چې د قلعي د معدن یوه تیره د اوسـپنې په پرتله نادره یعنې لږ پیدا کیږي، خو په اقتصاد کې بیا داسې نه ده، بلکې ویل کیږي چې دواړه سرچینې یې کمیابه یا لږ پیدا کیږي.

د اقتصـاد پوهانو په آند کمیابي د انسـانانو هغه خصوصیت یا مشـخصه ده چې نشي کولای لـه هغه څخه نجات ومومي.کمیابي د مادي رفتار پـه انځورنه یا shape-up کې موثر رول لري، د انسانانو د اقتصادي رفتار په شننه کې کمیابي د محدودیت په صفت په نظر کې نیول کیږي.

**۲. انتخاب Choice:** انسـانان یا وګړي د شـیانو او خدمتونو مصرف او اسـتهلاک ته اړتیا او لیوالتیا لري، له همدې کبله ویلای شـو چې انسـانان د نامحدودو او بېلابېلو غوښتنو لرونکي دي. څرنګه چې د خپلو غوښتنو په وړاندې له کمیابۍ یا د اړینو سرچینو د ندرت له ستونزې سره لاس او ګرېوان دي نو پکار ده چې د خپلو بې شـمېره غوښـتنو له منځ څخه مهمې هغه یې انتخاب کړي. د بېلګې په توګه کله چې تاسـو یوه سـتر پلورنځي ته ننوځئ ممکن تاسو میل ولرئ چې له دغه پلورنځي څخه هغه زیات څیزونه راونیسـئ چې مصرف یې تاسو ته په زړه پورې وي، خو په دې وخت کې ستاسـو مالي امکانات یا عاید د محدودیت په صفت ستاسو مخې ته دریږي او نشي کولای خپلو ټولو غوښتنو ته ځواب و وایئ. نو په همدې اساس لازمه ده چې تاسو په انتخاب لاس پورې کړئ او د هغه څه د رانیولو پرېکړه وکړئ چې د نورو ډېرو توکیو په پرتله ستاسو محدودیت ته نژدې وي.

نه یوازې دا چې افراد په ورته کړنه باندې مکلف دي، بلکې دولتونه هم د سـیاسي، اقتصادي او اجتماعـي سرچینـو د محدودیت له کبله خپـل اقتصادي رفتار یا سـلوک د محدودیتونو په بنا کنټرولوي او د یو لړ ځانګړیو غوښتنو د پوره کېدلو په انتخاب باندې مجبور دي.

**۳. د فرصت لګښتونه:** څنګه چې اقتصاد پوهان د کمیابۍ او انتخاب په وړاندې خورا حساس دریځ لري، نو په همدې اساس بې ضرورته لګښتونو ته هم کلکه پاملرنه کوي.

د اقتصادي لګښــتونو له ډلې څخه یو مهم هغه یې د فرصت لګښتونه بلل کیږي چې له لاسه وتلي درآمد یا فرصت ته ویل کیږي. دغه پېښه د یوه مثال په واسطه داسې واضح کوو:

یــو کس د ورځني مزد په بــدل کې چیرته په کار لګیا دی چې د ورځې ۵۰۰ افغانۍ عاید پیدا کوي. که چیرته نوموړی کس پرېکړه وکړي چې یوه ورځ کار پرېږدي او ورځ په اســتراحت باندې تېره کړي، په دې صورت کې د هغه د استراحت مصرف یوه ورځ کار یا ۵۰۰ افغانۍ کیږي، چې د استراحت له کبله یې له لاسه وتلې دي.

## نهايي کول

د شــیانو یــا توکیو د پیر یا اخســتلو یا د تولید پــه وخت کې تر ټولو مهم لامل د وروســتني تولیدېدونکــي او یــا رانیــول کېدونکــي واحد له مصرف او فایــدې څخه عبــارت دی. مثلاً که یو تولیدونکی د یوه واحد په اندازه د تولید د سطحې د بدلون نیت ولرې، نو غوره او منطقي پرېکړه بــه دا وي چې لومــړی د دغه اضافه کېدونکي واحد د تولید مصرف او فایده سره پرتله کړي او له هغه وروسته د تولید د سطحې د بدلون تصمیم ونیسي.

**۵- ګټور بازارونه:** په کلي توګه اقتصاد پوهان په دې عقیده دي چې په بازار کې ګټور فرصتونه چندان زیات نه دي. د ګټورو فرصتونو له اصطلاح څخه موخه هغه اقتصادي مجالونه دي چې په ترڅ کې یې تر عادي ګټې زیات منفعت تر لاسه کیدای شي.

په بله وینا د اقتصاد پوهانو په آند په بازار کې دغه ډول ګټور فرصتونه کوم معمولي او مروج شی نه دي، خو کله چې دا ډول تصادفي شرایط واقع شي، نو ټول اقتصادي فعالین هلته وردانګي او له بازار نه یوه مزدحمه ساحه منځته راځي چې په پایله کې یې دغه ګټور فرصت په نژدې وخت کې استثماریږي او د زیاتو له لاسه وځي. له دغه فرصت نه هغه کسان زیاته ګټه ترلاسه کوي چې تر نورو سیالانو ژر خبر شوي وي او یا یې تر نورو د مخه دغه بازار ته ځان رسولای وي. د اقتصاد په ترمینالوژۍ کې د غه ډول ګټو ته first mover advantagesهم ویل کیږي.

د مثال په توګه د اورګاډي د ټکټ اخستلو څو غرفې په نظر کې ونیسئ چې د ټکټ اخستلو په موخه یې هرې غرفې ته د خلکو لنډ او اوږده قطارونه ولاړ وي. څرګنده ده چې یو نوی راتلونکی مســافر د ټکټ اخستلو لپاره د هغه صف لور ته ورځي، چې د مراجعینو لنډ قطار یې په وړاندې ولاړ وي، چې دغه صف له لږ وخت نه وروسته له هغه اوږده سره برابریږي.

## د اقتصاد تحليل يا شننه

لکه څنګه چې مخکې ورڅخه يادونه وشوه د اقتصاد علم له بشري ژوند سره په تړاو اقتصادي پېښې مطالعه کوي له همدې کبله اقتصاد په لومړي سر کې د بشري ټولنې اقتصادي حوادث څېړي چــې دغه ډول مطالعه د تشريحي اقتصاد يــا Descriptive Economic په نامه ياديږي. په دويم قدم کې د اقتصاد علم د دغو حوادثو او پېښــو شننه کوي چې دغه اقتصاد شننه د تحليلي اقتصاد يا Theoretical Economic او يا نظري اقتصاد په نامه ياديږي.

په تشريحې اقتصاد کې د قيمتونو د ســطح، د اســتخدام يا ګمارلو د سطح، په ملي عايد کې د نوســان يا ټيټ او پاس، مالياتو، معاشاتو، پيســو، تخنکي پرمختګ او داسې نور اساسي موضوعات تر بحث لاندې نيول کيږي.

اقتصــاد د نــورو علومو په څېر يو تجربوي علم دی، لــه همدې کبله د عامل يا معلول په څېر اقتصادي مســايل د احصايوي ارقامو او اطلاعاتو په اساس چې په ژوند کې مشاهده کېدای شي تر څېړنې لاندې نيسي او دغه د اقتصاد د علم دنده ده چې د مشاهداتو په اساس اقتصادي جنبه له غير اقتصادي څخه تفکيک يا جلا کړي، چې په دې توګه کولای شي پروګرامونه او مطلوبه اقتصادي پاليسي تطبيق کړي.

کله چې اقتصاد پورتنۍ دنده ترسره کوي د ارقامو او علمې راپورونو مطالعه صورت نيسي، چې دا پخپله د اقتصاد د تشريحي جنبې ګواهي ورکوي، نو ويلای شو چې تشريحي اقتصاد د واقعتونو څرګندونــې تــه ويل کيږي. بايد و ويل شي چې د معلوماتو يــو ځای کول، د هغوی تنظيم کول او د واقعتونو څرګندونه په يوازې سره نشي کولای د ټولنې اقتصادي ســتونزې حل کړي، په اقتصادي ســتونزو بريالیتوب هغه مهال شوني دی چې راټول شوي ارقام او علمي معلومات تنظيم او تحليل شي، د منطق او اســتدلال په چوکاټ کې يې نتيجه ګيري وشي او د حقايقو د شــننې په پايله کې د ټولنــې په وړاندې د نا مطلوبو اقتصــادي شرايطو او حوادثو له رامنځته کېدو څخه مخنيوی وشي. نو کله چې يو اقتصاد د يادې شــوې دندې په ترسره کولو بريالی شي نو د تحليلي يا نظري اقتصاد په نامه يادېږي.

## د لومړي څپرکي لنډیز

دغــه فصل چې داقتصاد د اســاسي مفاهیمو تر عنوان لاندې نومول شــوی، په لومړي سر کې د اقتصــاد د علــم تاریخچه تشریح کوي او څرګندوي چې نــژدې دوه پېړۍ کیږي دغه علم د یوه مستقل علم په بڼه د سیاست او فلسفې په څېر له نورو علومو څخه بېل شوی، چې په دې مورد کــې انګلسي اقتصاد پوه ادم ســمیت مخکښ رول لــري، چا چې د ملتونو د ثــروت یا National Wealth پــه نامــه یې په ورته زمان کې یو مهم کتاب نــشر کړ چې له کبله یې د ټولنې د وګړو او افرادو په وړاندې د اقتصاد د علم اهمیت زیات شو.

په دغه کتاب کې اشــاره شــوې، اقتصاد نه یــوازې دا چې د افرادو په شــخصي ژوند کې مهم رول او د اقتصــادي چــارو په تنظیم کې لوی لاس لري، بلکې د هیواد، په ځانګړې توګه د ټولنې په اقتصادي امورو کې هم له دغه علم څخه استفاده کیږي، ترڅو د ټولنې اقتصادي ستونزې په غوره توګه حل شي.

همداشــان د دې فصل په اوږدو کې د اقتصاد د علم له لنډو تعریفونو څخه یادونه شــوېده، ترڅو محصلین وکړای شي د اقتصاد له علم سره شناخت پیدا کړي.

د فصل په اوږدو کې د اقتصاد د علم له فکري زمیني څخه هم یادونه شــویده چې د اقتصاد له نظره د انســان مادي رفتار او ســلوک مطالعه کوي، د یادونې وړ ده چې په دې بحث کې کمیابۍ او انتخاب په تاکیدي توګه مطرح شــوی دی، په دې معنا چې انســان هغه ټول څه نه لري چې ده ته په زړه پورې وي، ځکه د سرچینو کمښت د بشر په وړاندې یوه طبیعي ستونزه ده چې له کبله یې انســان د خپلو زیاتو غوښــتنو په لړ کې د هغه ځانګړي توکي په انتخاب مجبوریږي چې د ده محدودیت ته نژدې وي.

په دې فصل کې درې اساسي پوښتنې هم مطرح شوېدي چې څه شی، په څه اندازه، د چا لپاره تولید شي او د تولید ډول یې څنګه وي، چې د بېلابېلو اقتصادي سیستمونو له لوري ورته د ځواب ویلو ډولونه هم ذکر شوي دي.

همدا شان اقتصادي اصطلاحات چې په اقتصادي مسایلو باندې د پوهېدلو لپاره یوه ارزښتمنه پانګه ده هم یادونه شوېده.

## د لومړي څپرکي پوښتني

۱.له ۱۷۷۶م کال نه مخکې اقتصاد څنګه مطالعه کېده؟

۲.ادم سمیت د کوم ډول اقتصاد طرفدار و، لازم توضیحات ورکړئ؟

۳.د اقتصاد د علم مطالعه څه ګټه لري، واضح یې کړئ؟

۴.اقتصاد تعریف کړئ؟

۵.اقتصاد د انسانانو په ژوند کې څه اهمیت لري، توضیحات ورکړئ؟

۶.د اقتصاد درې اساسي پوښتنې یا مسلې کومې دي، لنډ معلومات ورکړئ؟

۷.د تولید د عواملو نومونه واخلئ؟

۸.حقیقي عایدات تعریف کړئ؟

۹.په اقتصاد کې له کمیابۍ څخه مقصد څه شی دی، واضح یې کړئ؟

۱۰. تشریحي اقتصاد کوم مفهوم پیاده کوي؟

۱۱. د اقتصاد په برخه کې د کینز نظریه څنګه وه معومات ورکړئ؟

۱۲. مفیدیت او ارزش تعریف کړئ؟

# دویم څپرکی

## د اقتصاد د علم ویش او ډلبندي

**ټولیزه موخه:**

په ماکرو، مایکرو، نورماتفي او اثباتي څانګو باندې د اقتصاد د علم ویش او طبقه بندي.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي له ختمېدلو سره باید زده کوونکي و پوهېږي چې:

- ماکرو اقتصاد څه شی دی.
- مایکرو اقتصاد څه شی دی.
- اقتصادي سیاست څه شی دی.

اقتصاد پوهان د اقتصاد علم په دوو لویو څانګو باندې ویشي.

الف: لوی اقتصاد ب: کوچنی اقتصاد

کوچنی اقتصاد په بازار کې د شیانو او خدمتونو د قیمتونو د تعین، مستهلکینو او داسې نورو په څېر د افرادو، کورنیو او تصدیو رفتار او کردار تر څېړنې لاندې نیسي.

### تولیدي لګښتونه

لوی اقتصاد د قیمتونو د عمومي ســطحې، د انفلاســیون د ضریب، د کارګرانو د مزد د اندازې، ملي عاید، مجموعي تقاضا او داسې نورو په څېر د افرادو او ډلو کردار او رفتار په پراخه او ټولنېزه سطحه تر مطالعې لاندې نیسي.

هغه څه چې له اقتصادي مطالعې څخه پوهېدلای شو دا دي چې لوی او کوچنی اقتصاد یوه منشا لري، په دې دلیل چې که چیرته په کوچني اقتصاد کې عملي کېدونکی میکانیزم د کورنیو او تصدیو په څېر په کوچنیو برخو کې غوره پایله ورکړي، اثرات یې په لوی اقتصاد باندې لویږي. له بله لوري که چیرته د اقتصاد ستر سیاستونه غوره بڼه ولري، نو کورنیو او تصدیو ته یې هم ګټه رسیږي.

په عمومي توګه د کلاسیک نظر پیروان عقیده لري چې د اقتصاد کوچنیو سیاستونو ته په کتنې سره د لوی اقتصاد سیاستونه منځته راځي.

د کینز او د هغه د حامیانو له نظره کولای شو دا مفهوم ترلاسه کړو چې د لوی اقتصاد قلمرو د کوچني اقتصاد له هغه څخه ګوښــې دی. خو په اصولو کې سره یو شــی دي. دغه دواړه په خپل منځ کې د لازم او ملزوم رابطه لري او د یوه وجود د بل په نشتوالي کې فایده نه لري. په بل عبارت، لوی او کوچنی اقتصاد د دوو پښــو حیثیت لري چې شــتون یې د یوه نورمال حرکت او خوځښت لپاره اړین دی.

## کوچنی اقتصاد یا Micro Economics

کوچنی اقتصاد د افرادو، کورنیو او تصدیو په وړاندې د اړوند اقتصاد مســایل او تقسیمات تر څېړنې لاندې نیسي. د بېلګې په توګه په کوچني اقتصاد کې د غوښې، وریجو، ماشین آلاتو او داسې نورو په څېر د ځانګړیو توکیو بازا تر کتنې لاندې نیول کیږي.

په بل عبارت کوچنی اقتصاد د کورنیو او تصدیو په څېر د اقتصاد د کوچنیو واحداتو فعالیتونه او اقتصادي سلوک تر کتنې لاندې نیسي او یا کوچنی اقتصاد په یوه شرکت کې د تولید، په بېلابېلو بازارونو کې د توکیو د نرخونو د ثبات، په یوه کارځای کې د کارګرانو د مزد او معاش، د یوې کورنۍ د عاید او مصرف، د رقابتي او انحصاري هغو په څېر د بازارونو د مختلفو ډولونو، عرضې تقاضا او داسې نورو په څېر د لوی اقتصاد له اجزاوو څخه بحث کوي.

### لوی اقتصاد یا Macro Economics

د لوی اقتصاد د اقتصادي کړنلارې له مخې په عمومي یا ستره کچه اقتصادي قوانین او مسایل تر مطالعې لاندې نیسي.

پــه لوی اقتصاد کې د نرخونو د تورم یا انفلاســیون، د بېــکارۍ د کچې، ملي تولید او مصرف، سرمایه ګذاري، ســپما، پس انداز او داســې نورو په څېر د یو لړ عمومي مسایلو څېړنه او شننه تر سره کیــږي. په بل عبارت لوی اقتصاد یا macro economics اقتصادي مســایل په ټولیزه توګه تر مطالعې لاندې نیسي، چې ځینې خلک یې د ملي اقتصاد په نامه هم یادوي.

د لوی اقتصاد فعالیتونه اصلاً په یوه اقتصاد کې د شیانو او خدمتونو د تولید د مجموعې، ملي عاید، مجموعي مصرف او پس انداز، مجموعي سرمایه گذاري، د استخدام د مجموعي سطح، په هیواد کې د قیمتونو سطح، د بانکي فعالیتونو او داسې نورو په څېر د اقتصاد له عمومي متحولینو لـه مطالعې څخه عبـارت دي. باید وویل شي چې د اقتصاد دغه دوه ډولونه یوله بله بېل نه دي، بلکې د دغو دواړو ډولونو اساسي موضوعات سره یو شـان دي، شریکه منشأ لري او شریکه موخه انځوروي.

په دغو دواړو ډولونو کې په یوه باندې پوهیدل یې په هغه بل باندې له پوهېدلو سره مرسته کوي، خو باید وویل شي چې بیا هم په جزیاتو کې د دې دواړو ډولونو ترمنځ ژور توپیرونه شتون لـري. اقتصاد هم لکه د نورو علومو په څېر د بېلابېلو څانگو درلودونکی دی چې عمومي اقتصاد، دولتـي اقتصاد، بین المللي اقتصاد، پیسـې او بانکـداري، پراختیایي اقتصـاد، د سرچینو اقتصاد، د مدیریت او حسـابدارۍ اقتصاد، شهري اقتصاد او داسـې نور یې د یادونې وړ څانگې دي، چې د دغـو ټولو څانگو موضوعات، نظریات، تیوري او ډولونه یې په لویه او کوچنۍ سـطح تر مطالعې لاندې نیول کیږي.

د دولـت لـه لوري د ملي عایـد د ویش او د سرچینو د تخصیص په هکلـه پرېکړې د اقتصاد په کوچنۍ سـطح تصامیم او د هغوی د متقابلو اغیزو د مطالعې په ترڅ کې نور پراخ وروسـتني تصامیم د لوی اقتصاد په سطح پرېکړې او تصامیم ترسره کیږي، یعنې که چیرته په کوچنۍ سطح د تصامیمو د پایلو د متقابلو اغیزو، انگیزو او مطالعې په ترڅ کې د تحلیل او تجزیې لړۍ صورت ونیسي، نو په دې صورت کې ویل کیږي چې مطالعې د لوی اقتصاد په محوطه کې صورت موندلای دی. د بېلگـې په توگه د شـیانو په قیمتونـو او د تولیدي توکیو په تولید بانـدې د مالیاتو اغیزې مطالعـه د کوچني اقتصاد یوه برخـه ده، اما په مجموعي تولید یا قیمت باندې د مالیاتو د اغیزې مطالعه د لوی اقتصاد د مطالعې جز گڼل کیږي. له نورو هیوادونو سره اقتصادي اړیکې هم کېدای شي د لوی او کوچني په نامه په دوو سطحو کې مطرح شي، مثلاً د ملي عاید په وړاندې د صادراتو او وارداتو د تاثیر مطالعه د لوی اقتصاد برخه ده، په داسـې حال کې چې د وریجو په څېر د یوه خارجي توکي د صادراتو او وارداتو بررسي او یا د غنمو په څېر د یوه توکي د جهاني راکړې ورکړې د حجم یا قیمت بررسي د کوچني اقتصاد یوه برخه ده.

د اقتصاد علم په عنعنوي توگه د بېلابېلو لید لوریو په اسـاس طبقه بندي شـوی دی، چې له همدغې جملې څخه ځینې یې په لاندې توگه دي.

### اثباتي اقتصاد یا Positive Economics

اثبـاتي اقتصـاد د اقتصادي کړنلارو او واقعیتونو څرگندونې ته ویـل کیږي. د بېلگې په توگه د

بېکارۍ او تورم تر منځ تړاو، د يوه شي په قيمت باندې د مالياتو د اغېزې مطالعه، په ټولنه کې د بېکارۍ او تورم د علتونو مطالعه او داسې نور هغه مسايل دي چې مطالعه يې د اثباتي اقتصاد په اړوند فعاليتونو کې حسابيږي.

د نظـري اقتصاد په چوکاټ کې شــته تيوريو ته په کتنــې سره دغه ډول مطالعات او د هغوی تطبيــق د هــري ټولنې د اقتصادي واقعيتونو څرګندونه ده، خــو د اثباتي اقتصاد په چوکاټ کې په يــو سري توګه د اصولو وړاندوينه کيږي، چې اقتصاد څنګه کولای شي د ځانګړيو بدلونونو، بحران يا شرايطو په وړاندې له ځانه دفاع يا عکس العمل وښــيي. اثباتي اقتصاد د يوې داســې نظريې په توګه چې ګواکي د نوي کلاســيک منطق نظر او اســاس تشــکيلوي، يوه له جګړې وروسته اختراع ګڼله کيږي. که څه هم د دې نظر يو لړ طرفداران د اثباتي اقتصاد دارزښــتونو د تعريف يا پېژندلو لپاره د ارزښــت او واقيعت تر منځ يوازې د يوه توپير په اکتفا عقيده لري، خو بيا هم ادعا کيږي چې د دســتوري تيورۍ په وړاندې د اقتصاد د اثباتي تيورۍ منځته راتګ يو ګټور کار دی. اما ذکر شوې ادعا نه خو د اثباتي روش د پېژندلو لپاره په فرد پورې کوم منحصر معيار دی او نه د فرد په وړاندې د تميز يوازينۍ وجه شــمېرل کيږي. دغــه واقعيت ته په کتنې سره د اثباتي اقتصاد عنوان چــې په ضمني توګه داقتصاد عمل په روښ او هم د هغه په موادو باندې دلالت کوي، نوموړې موضوع لاپسې پيچلې کوي. اصلاً د نيو کلاسيک تيورۍ له روش څخه مقصد په دغه تيورۍ کې د يو ډول تغير له مقصد پرته بل څه نه دي.

## دستوري اقتصاد يا Normative Economy

په دســتوري اقتصاد کې هغه نظريات او توصيې شــاملې دي چــې د اخلاقي اصولو او ارزشي قضاوتونو په اســاس ولاړې دي. دا قضاوتونه تعينوي چې کوم اقتصادي شرايط او سياســتونه غوره او کــوم يې غوره نه دي. يا په بل عبارت دســتوري اقتصاد له بايــد او نبايد سره سروکار لري. مثلاً د بېــکارۍ نرخ بايد څومــره وي، په ټولنه کې د درآمد توزيع بايد پــه څه توګه ترسره شي، الکولي مشروبات په ټولنه کې توليد نشي او داســې نور هغه موضوعات دي چې په دســتوري اقتصاد کې مطالعــه کيــږي. د پورتنيو موضوعاتــو د مطالعې او څېړنې په ترڅ کې لــه اقتصادي تيوريو څخه استفاده نشي کيدی، ځکه اقتصادي تيورۍ ارزشي قضاوتونه په بر کې نشي نيولای دغه ډول پوښتنو ته ځوابونه يوازې د تصاميمو او انتخاب په چوکاټ کې تر لاسه کيدی شي.

### اقتصادي سياست يا Economic Policies

اقتصادي سياست د دغه علم له خورا مهمو موضوعاتو څخه دی. اقتصادي شننه او د اقتصادي تيوريو طرحه تر ډېره ځايه د اقتصادي پاليسيو د طرحې په موخه ترسره کيږي. د پوهانو له لوري

اقتصادي سیاست په لاندې توګه تعریف شوی دی.

اقتصادي سیاست له هغې خط مشي څخه عبارت ده چې د اقتصادی چارو د تنظیم په موخه د پټیبل شــویو اقتصادي موخو د تعقیب په مقصد له وســایلو او اقتصــادي تدابیرو څخه په ګټه اخســتنې سره د دولت، موسســاتو او پالیسي جوړونکو له لوري په یوه معین وخت کې طرح او تطبیق کیږي.

اقتصادي پالیسۍ بیلابیلي موخې لري چې د ټولنو په مالي او اقتصادي نظامونو او سیاسي رژیمونو پورې اړه لري. د یوه اقتصادي سیاست یا پالیسۍ مهمې موخې په لاندې توګه خلاصه کیږي.

۱. د ثروت د عادلانه ویش او ټولنېزو خدمتونو د اماده کولو په واسطه د ټولنېزې رفا تامین.

۲. full employment یا بشپړ استخدام ته رسېدل.

۳. په هیواد کې د خلکو د ژوند د سطحې د اوچتولو په موخه اقتصادي ودې ته ګړندیتوب ورکول.

۴. له انفلاســیون، پولي تورم، پولي او اقتصادي نوســاناتو او داســې نورو نا مطلوبو شرایطو څخــه مخنیــوی.

۵. له بهرنیو هیوادونو سره د هیواد د اقتصادي اړیکو پراختیا.

۶. د ټولو هیوادونو په وړاندې د هیواد د تادیاتو د انډول ساتل.

د وخت او زمان له مخې اقتصادي موخې په دریو برخو باندې ویشل شوېدي:

**A.** اوږد مهالې موخې.

**B.** لنډ مهالې موخې.

**C.** منځ مهالې موخې.

## A: اوږد مهالې موخې:

۱. په هیواد کې د تولیداتو زیاتوالی د هیواد د وګړو د ژوند د سطحې د لوړوالي لامل ګرځي، نو همدغه د اقتصادي ودې ګړندیتوب د اقتصاد له اوږد مهاله موخو څخه شــمېرل کیږي. په دې مــورد کــې باید هڅه وشي د کیفیت له لوړوالي سره سره د شــیانو او خدمتونــو د تولید اندازې ته زیاتوالی او پراختیا ورکړ شي.

۲. پــه عادلانه توګه د ثروت او عاید توزیع، د ټولنېزې رفا په منظور د ټولنېزو خدمتونو اماده کول او داسې نور هم د اوږد مهاله اقتصادي موخو له جملې څخه شمېرل کیږي. د ثروت او عاید د عادلانه ویش په برخه کې باید هڅه وشي چې د ټولنې ټول افراد او طبقات، مولد، مســتهلک او نور مستحق اشخاص له اجتماعي تولیداتو او مادي نعمتونو څخه په مساویانه توګه برخمن شي.

### B: لنډ مهاله موخې:

۱. full employment یا بشپړ استخدام د یوه اقتصاد له لنډ مهاله موخو څخه شمېرل کیږي. پــه دې ځای کې دولت او مســؤلین هڅه کــوي د ټولنې هغو افرادو ته چــې د کار کولو مینه او استعداد لري د کار زمینه برابره کړي.

۲. د نرخونــو ثبــات یا price stability او د پیســو د رانیولو د قدر ســاتنه هــم له لنډ مهاله اقتصادي موخو څخه شــمېرل کیږي، البته په داســې ډول چې د سرمایه ګذارۍ، تولید او استخدام مانــع نشي. په دې ځای کــې د نرخونو له ټیټ وپاس څخه د مخنیوي په موخه د دولت او پالیسي جوړونکــو له لوري ګټور تدابیــر نیول کیږي ترڅو تولیدونکی او یــا رانیونکی په بې موجبه توګه متضرر نشي.

۳. د تادیاتو د بیلانس انډول یا balance of payment: د تادیاتو د بیلانس انډول ســاتل یوه لنډمهالــه اقتصــادي موخه یا هدف دی. د تادیاتو بیلانس د پیســو په بڼه په یوه معین دوران کې لــه یوه خارجي هیواد څخه هیواد ته او یا لــه هیواد څخه نورو هیوادونو ته د اقتصادي توکیو او خدمتونو د لیږد را لیږد مفهوم پیاده کوي. دغه انتقال او تادیات د طلا، اسعارو، شیانو اوخدمتونو، قرضې او سود په بڼه د سرمایې د لېږد را لېږد په ډول صورت مونډلای شي.

## د اقتصادي شننې وسایل یا اسباب

په دې ځای کې د هغو وسایلو یا معنوي توکیو یادونه کوو چې په مرسته یې اقتصادي تحلیل یا شننه صورت مونډلای شي.

**۱. تیوریانې یا نظریې:** د اقتصاد علم د نورو ټولو علومو په څېر د یوه ښــه تحلیل او منطقي برداشــت لپاره له مشاهداتو، اقتصادي پېښو او علمي نظریاتو یا تیوریانو څخه استفاده کوي. یوه اقتصــادي نظریه هغه وســیله ده چــې د اقتصادي پدیدو د تباین، تشریــح، وړاندویني او حتی د هغوی د کنټرول په اړه ترې کار اخیســتل کیږي. یوه تیوري یا نظریه په لومړي سر کې د لومړنیو اصولو او ســاده فرضیو په اســاس منځته راځي، چې بیا وروســته له یوه منطقي استدلال څخه په اســتفادې سره د یوې پایلې په توګه وړاندې کیږي چې دغې پایلې ته تیوري یا نظریه ویل کیږي. د یادونــې وړ ده چــې د اقتصاد په علم کې له ریاضي څخه په زیاته کچه د یوې وســیلې په توګه د یوه منطقي اســتدلال اســتفاده کیږي. په بله وینا: د یوې نظریې یا تیورۍ د طرحې په ترڅ کې ځینــې واقعیتونه نالیدلي فرض کیږي، تمرکز یوازې په اســاسي نقطو یــا ټکیو باندې کیږي تر څو له فرد او ټولنې سره په تړاو د اقتصادي ســلوک پایله جوته شي. له دې وروســته د واقعیتونو د دغه کنټرولیدونکي تصویر په مرسته د اقتصادي عملکرد یا رفتار څرنګوالی څېړل کیږي. نو په دې اساس

د پالیسۍ د طرحې په اوایلو کې کولای شو د اړتیا په کړو حساب او واقعیتونو ته د نږدې کېدلو په منظور د موډل، یو یا څو لومړني اصول حذف یا تغیر کیږي او نوي نتایج ترلاسه کړو او په دې ترتیب شننه او وړاندوینه صورت نیسي. ویل کیږي چې تیورۍ یا موډل د یوې روښانه نقشې رول لري. د ښار په یوه نفشه کې ترافیکي نښو او داسې نورو په څېر د واړونو ټول خاصیتونه شتون نه لري، خو بیا هم کولای شو د دغې نقشې په مرسته یو ټاکلی موقعیت پیدا کړو. په تیورۍ کې د هدف د څرګندونې تشریح د اقتصادي پدیدو او وړاندوینې لپاره د دوو یا څو متغیرو ترمنځ تړاو رامنځته کیږي یو متغیر د اندازه ګیرۍ وړ یو مقدار یا عامل دی چې له یوه وخته تر بله او یا له یوې مشاهدې څخه بیا تر بلې مشاهدې پورې تغیر کوي. د بېلګې په توګه درآمد یا عاید یو متغیر فکتور دی، مقدار یې نظر کردار ته متفاوت دی او یوه فرد ته هم په بېلابېلو وختونو کې یو ډول معنا نه لري. په یوه موډل کې د متحولینو د څېړنو تر منځ اړیکې تر ډېره ځایه د معادلاتو او هندسي جدولونو په واسطه ښودل کیږي. دغه ډول شرایط یا اړیکې په لاندې دوو برخو باندې ویشل شویدي.

**الف- د کردار معادلې:** دغه ډول معادلې په اقتصاد کې د افرادو یا ډلو اقتصادي رفتار یا سلوک تشریح کوي او تابعي اړیکې په بر کې نیسي او څرګندوي چې د یوې تابع د رفتار یا مسیر عامل څه شی دی. مثلاً د کینز د نظریې مطابق سپما یا پس انداز په مستقیمه توګه د درآمد یا عاید تابع ده چې د معادلاتو په قالب کې یې په لاندې توګه ښوولای شو.

$$S=F(Y)$$

چې په دې معادله کې S سپما Y در امد(.<F) ده.

**ب- تعریفي معادلې:** تعریفي معادله په یوه موډل کې د ځانګړیو تعریفونو ښودونکې ده. مثلاً د یوه فرد تر لاسه کیدونکی (قابل تصرف عاید) یا خو مصرف او یا سپمول کیږي چې په دې خاصیت سره دغه رابطه په لاندې ډول سره لیکلای شو.

$$Y=C+S$$

چې په دې رابطه کې Yتر لاسه کیدونکی عاید یا **Yield** او C مصرف او S سپاما یا **Saving** ده .

پورتنۍ معادله د یوه کس د ترلاسه کیدونکې عاید د تغیر په مقابل کې د مصرف او پس انداز د تغیر څرګندونه کوي.

**۲. ارقام یا Data:** ارقام یا امار هغه سمبولونه دي چې په مرسته یې د واقعیتونو بیان او څرګندونه صورت مومي. له همدې کبله اقتصاد د ارقامو په کمک په تیوریو کې مطرح شوې اړیکې په لړه پیمانه راوړي، نو ځکه د هر دقیقي علم په څېر د میتودونو د تطبیق د پایلو په منظور واقعیتونه د موډلونو په امتحان کې غورزوي.

د اقتصاد لپاره ارقام د جدول په واسطه ښودل کيږي. د اقتصاد پوهانو په واسطه د ارقامو د استعمال مهم ځای دا دی چې د استفادې وړ ارقام او منبع د جدول په پای کې ذکر کړي. څرګنده ده چې ارقام د زمانې له مخې په دوو ډولونو باندې ويشل شويدي.

**الف- زماني ارقام:** دا هغه ارقام دي چې د زمانې په اوږدو کې د يوه متحول د بدلون او تغير څرګندونه کوي. د کلونو په اوږدو کې د انفلاسيون بېلابېل نرخونه، په مختلفو کلونو کې د وريجو نرخونه، په بېلابېلو فصلونو کې د کورنيو د انرژي د لګښت تغير او داسې نور زماني ارقام د ځينې بېلګو په صفت وړاندې کولای شو.

**ب- پرمختيايي ارقام:** دا هغه ارقام دي چې د يوه ځانګړي متحول د اندازه ګيرۍ پايله د يوې خاصې زمانې مقطع په حساب طبقه بندي کوي. د بېلګې په توګه په ۱۳۵۶ هـ ش کال کې د هيواد د مختلفو ولاياتو د نفوسو شمېره، نسبي درآمد، شغل او داسې نور.

**۳. د شاخص اعداد يا Index Number:** د شاخص عدد په اساس په کال کې د يوه متغير د ارزښت نسبت په وړاندې د هغه متغير د مربوطه رقم له بيان څخه عبارت دی. مثلاً په ۱۹۷۰ م کال کې د نقرې قيمت ۱۹۳،۷۶ دی، چې په مقابله توګه منځته راځي.

$$\frac{177.10}{19.4} \times 100 = 193.76$$

په عمومي توګه د قيمت له شاخص يا ټاکونکي څخه د نرخونو د تغيراتو د سنجش لپاره استفاده کيږي. دغه شاخص په مختلفو کلونو کې د نرخونو بدلون د هغه کال په نسبت ښيي چې د اساس په توګه مد نظر نيول شوي او په فيصدۍ سره ښودل کيږي. له پورتنيو مطالبو څخه په ډاګه کيږي چې شاخص د لاندې ځانګړتياوو درلودونکی دی.

**الف**- د څو همجنسو کميتونو د نماينده په صفت.

**ب**- معمولاً دغه کميت د اساس په کال د هغه د مقدار په حساب سنجول کيږي.

**۴. پولي او واقعي متغيرات:** له شک نه پرته چې پولي متغير يا variables له پولي نظره د قيمتونو سطح تر مطالعې لاندې نيسي. د ورځو په حساب سره پولي مزد، ملي درآمد او داسې نور يې ورته بېلګې دي.

واقعي متغيرات يا variables د قيمتونو د شاخصونو د قيمت په ارتباط پولي تغير مقايسه کوي . مثلاً واقعي ملي عايد، واقعي مزد چې کولای شو د دوو ډولو شاخصونو په مرسته يې په لاندې توګه ترلاسه کړو.

$$\text{واقعي مزد} = \frac{\text{پولي مزد}}{\text{د ژوند د مصرف شاخص}}$$

$$\text{واقعي مزد} = \frac{\text{پولي مزد}}{\text{د قیمتونو شاخص}}$$

له همدې ځایه کولای شو د پیسو د رانیولو قدرت تعریف کړو.

د پیســو د رانیولو قدرت له هغه شــاخص څخه عبارت دی چې ښیي په یوه پولي واحد باندې څومره شــیان اخیســتل کیدای شي. د پیسو د اخیســتلو قدرت د متغیراتو د واقعي اندازه ګیرۍ یا مقایسي یوه بله ځرګندونه ده.

**۵. د اقتصــادي متغیراتو اندازه ګیري:** تر دغه عنــوان لاندې ځینې وخت د یوه مدنظر متغیر تغیــرات تر مطالعې لاندې نیول کیږي. کله چې د یوه متغیر تغیرات محاســبه کیږي، په یوه ډول کولای شــو ترلاســه کړو چې ایا دغه متغیر د دوؤ کلونو په منځ کې په بشــپړه توګه لړوالی او که زیاتوالی کړی دی. اما په بشــپړه توګه د اقتصادي مطالعاتو په ترڅ کې د متغیراتو د ودې له نرخ څخه زیاته استفاده کیږي. د یوه متغیر د ودي نرخ په هره دوره یعنې یوه کال کې د هغه متغیر د تغیر د فیصدۍ له تغیراتو څخه عبارت دي.

که مورد نظر متغیر په x1 سره و ښیو، د هغه د ودي نرخ په لاندې توګه محاسبه کیږي.

$$\frac{X_2 - X_1}{X_1} \times 100 \text{ x=}$$

X2,x1 په لومړۍ او دویمي زماني دورو کې متغیر مقادیر دي.

مثلاً د ۱۳۶۶ او ۱۳۶۷ کلونو تر منځ د ملي عاید وده له لاندې رقم څخه عبارت دی.

$$\frac{209611.1 - 190.5}{19090.5} \times 100 = 9.8\%$$

**۶. د تعــادل مفهوم:** د اقتصاد سیســتم هغه مهال د تعادل په موقعیــت کې ګڼل کیږي چې په هغه کې شــته قواوې داســې چلند وکړي چې یو د بل په وړاندې د بدلون یا تغیر انګیزه خوره نکړي. یا په بل عبارت دا هغه موقعیت دی چې دوه نا متجانس مقادیر یو تر بله پکې برابر وي.

مخکې واضح شوه، ټولنه پدې باره کې چې څه شی، څه ډول او د چا لپاره تولید شی، تصمیم نیونه کوي او له اشتراکي یا متمرکز اقتصاد څخه پرته په هر اقتصاد یا اقتصادي سیستم کې قیمتونه د سرچینو د تخصیص او پورتنیو سوالونو ته د ځواب ویلو په برخه کې مهم نقش لري.

نو باید روښـــانه شي چې قیمت چیرته او څنګه تعینیږي. په عمومي توګه د هر نوي توکي او خدمــت قیمت په اړوند بازار کــې تعینیږي او بازار له هغه ځای څخه عبارت ده چې پېرودونکي او پلورونکــي پکي د شـــیانو او خدمتونو د تبادلې په موخه یو تر بلـــه اړیکي ټینګوي. دغه اړیکې کېدی شي د روزمره مراجعې په ډول په حضوري توګه او یا د تلفون، فکس او داسې نورو ارتباطي وسایلو په واسطه صورت ومومي.

په عمومي توګه ټول بازارونه د پیرودونکو او یا پلورونکو او یا تقاضا کوونکیو او عرضه کوونکو په څېر له دوو ډلو څخه تشکیل شویدي چې د مبادلې لپاره یو تر بله تماسونه ټینګوي، نو کله چې د عرضـــې او تقاضا مقدار یو تر بله سره مســـاوي شي همدغـــه د عرضې او تقاضا د تقاطع نقطه د تعادل نقطه بلله کیږي.

# د دويم څپرکي لنډيز

پــه دې فصل کې مود مختلفو لوريو اقتصادي تصاميم وڅېړل او اقتصاد مو په اثباتي توګه چې اقتصــادي واقعيتونه او کړه وړه توصيف کوي. مطالعه کړ او پدې ترڅ کې و څېړل شــول چې ياد شوي تصاميم دبيکارۍ او تورم د رابطې، په نرخونو او اقتصاد باندې د مالياتو اغيزې د مطالعې او داسې نورو په څېر د عملي مسايلو له بررسي سره سروکار لري.

همدا شــان مو له نورماتفي يا دســتوري اقتصاد څخه چې د نظرياتو او مشــورې ګډوله ده، يادونــه وکړه او و مو لوســتل چې دغه ډول اقتصادي مطالعه د اخلاقي ارزښــتونو او ارزښــتناک قضاوتونو يا بايد او نبايد سره سروکار لري او ذکرشــوه چې پدې ډول اقتصاد کې اقتصادي تيوريو ته اړتيا نه ليدل کيږي. همدا رنګه مو اقتصاد په ماکرو ايکانومي او مايکرو ايکانومي څانګو باندې و ويشــو چې لوی اقتصاديي په لويه ســطح د خپلو اړوند قوانينو بررسي کوي. په لوی اقتصاد کې د انفلاسيون د نرخ، د بيکارۍ د نرخ، ملي توليد، ملي سرمايه ګذاري، ملي سپما، مصرف او داسې نورو په څېر پراخ فعاليتونه تر مطالعې لاندې نيول کيږي.

کوچنی اقتصاد د افرادو، کورنيو، تصديو، بازارونو او داســې نورو مسايلو بررسي، اړوند قوانين او انفــرادي اقتصادي تصاميم تر مطالعې لاندې نيسي. د پورتنيو مســايلو تر څنګ مو د اقتصادي سياست په هکله چې د اقتصادي چارو د تنظيم او د پټييل شويو ټولنېزو موخو د تعقيب په موخه د اقتصــادي اهدافو د لاســته راوړنی په هيله د هغې خــط مشي مطالعه هم وکړه چې د دولتونو، موسساتو او پاليسي جوړونکو له لوري له بعضي وسايلو او اقتصادي تدابيرو څخه په ګټه اخستني سره په يوه معين وخت کې طرح کيږي.

د دغو سياســتونو اســاسي موخي په ترتيب سره د ټولنېزی رفاه له تامين، پشپړ استخدام ته د رسيدلو، د انفلاسيون له مخنيوي او له ممالکو سره د اقتصادي روابطو له پراختيا څخه عبارت دي.

همداشــان مو د اقتصادي شــنني وســايل مطالعه کړل، البته په دې بهير کې د تيوريو په څېر هغه لاملونه ذکر شــول چې کولای شي د اقتصادي شنني او تحليل په برخه کې مرسته وکړي. لدې سره په څنګ کېپه دې هم و پوهيدو چې ارقام، شــاخصونه او اقتصادي متحولين هم د اقتصادي تحليل په برخه کې همکاري کولای شي.

## د دویم څپرکي پوښتنې

۱- کوچنۍ اقتصاد کوم اقتصادي مسایل مطالعه کوي؟

۲- ایا په دستوري اقتصاد کې له تیوري ګانو څخه استفاده کیږي او که نه؟

۳- نورماتیفي اقتصاد کوم مسایل مطالعه کوي؟

۴- په اثباتي اقتصاد کې کوم مسایل تر مطالعې لاندې نیول کیږي؟

۵- د اقتصادي تحلیل د وسایلو یا افرارو نومونه واخلۍ؟

۶- اقتصادي سیاست تعریف کړئ؟

۷- د اقتصادي سیاست موخې واضح کړئ؟

۸- د تیوریو په هکله خپل معلومات ورکړئ؟

۹- د تادیاتو بیلانس کوم مفهوم پیاده کوي؟

۱۰- په اقتصاد کې تعادل څه وخت منځته راځي؟

# درېیم څپرکی

## د اقتصادي دوران تیوري یا د اقتصاد دایروي جریان

**ټولیزه موخه:**

د کورنیو ترمینځ د اقتصادي روابطو زده کړه د تصدي، بانک دولت او د خارجي تجارت.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي له ختمېدلو سره شاګردان باید و پوهیږي چې:

- د کورنیو او تصدیو ترمنځ څه اړیکي شتون لري.
- د دولت، کورنیو او تصدیو تر منځ څه اړیکي شتون لري.
- بهرنۍ سوداګري یا تجارت څه شی دی.

فرانســوي عالم فرانســوا کینه چې د ۱۶۹۴-۱۷۷۴ کلونو تر منځ یې ژوند درلود، لومړنی کس و چې اقتصادي دوران یې مطالعه کړ.

هغه غوښــتل وښــیې چې د طبقاتو تر منځ د محصولاتو او زراعتي تولیداتو توزیع او ویش په څه توګه تر سره شي. نوموړی عالم څلور ډوله طبقې یا اقشار پېژندل چې په لاندې ډول دي.

a. د زراعینو یا اجاره دارانو طبقه چې د مولیدینو په نامه یې هم یاده کړې.

b. د مالکینو یا ځمکه والو طبقه.

c. نا مولده یا غیر مثمره طبقه، چې تجار او سوداګرپه دې طبقه کې راځي.

d. د کارګرانو او خادمینو طبقه. چې د ده په آند دغه طبقه د مصرف له مخې د اهمیت وړ نه وه.

په ورته توګه له فرانســوا کینه څخه وروســته مارکس د اقتصادي دوران تیوري تشریح کړه او لومړنی کس و چې د اقتصادي دوران تیوري یې د ریاضیکي اعدادو په واسطه توضیح کړه.

د مارکــس پــه نظر هغه سرمایه چې پکار ولوېږي او اضافي ارزښــت تر لاســه کړي، د متغیرې سرمایــې یا variable capitalپه نامه،  او هغه سرمایه چې د ماشــین الاتو، تعمیر، فابریکو، خامو توکو او د تولید د داســې نورو عواملو په بڼه پکار اچول شــوي وي، د constant capital یا ثابتي سرمایــې په نومونو باندې یادېږي. په (K=C+V) فورمول کې د مارکس له نظره K په نغدي توګه هغه مجموعي سرمایه ده چې دتولید په پیل کې د C په نامه د ثابتی سرمایې او V یعنې متغیرې سرمایې د اخستلو لپاره په مصرف رسیدلې وي.

(K=C+V) اصلاً د تولید په بېل کې سرمایه ده،  په داسې حال کې چې نوموړې سرمایه د یوې دورې له انجام څخه روسته د پورتنیو مصارفو په جبران بر سیره بیا هم زیاتیږې یعنې د کار،  تولید او فعالیت له کبله متغیره سرمایه زیاتیږي او یا اضافه کیږي چې له امله یې پخوانی فورمول لاندې شکل خپلوي یعنې (K=C+V+M)په دې فرمول کې C ثابته سرمایه، V متغیره سرمایه او M هغه اضافي ارزښت ده چې د کار،  فعالیت او تولید له کبله خلق شویده.

د یادونې وړ ده چې د کار د ارزښت تیوري د مارکس او ادم سمیت له لوري منځته راغلې، اما د ۱۹۲۱-۱۹۳۳ کلونو تر منځ د منځته راغلیو بحرانونو له کبله علماپه دې فکر کې شول چې د کار د ارزښت ورته نوېې او جدیدې تیوري منځته راوړي، هماغه ؤ چې د نیو کلاسک مکتب د پیروانو له منځه، جان مینارډ کینز د دوران د تیوري په اړه بحث وکړ.

هغه باور درلود چې له پانګې اچونی او لګښــت نه د ناورینونو او ځینو د پس اندازه شــتمنې تر اغیزې لاندې راوستل شي.

## د پیسو او شیانو دایروي جریان

هغه اقتصاد چې د اقتصادي واحدونو د کار په ویشــلو، کوم چې د تولید ســبب ګرزي، متکي وي، تصــدۍ پکــې د مجموعي اړتیاوو د یوې برخې د لــرې کولو یا رفع کولو دنده په غاړه لري او د دغو تولیدي واحدونو یعنې تصدیو په مقابل کې د کورنیو،  دولت او خارجي تجارتي ســکتور په څېر یو لړ نور واحدونه شــتون لري چې موخه یې د مصرف لپاره د اړتیا وړ استهلاکي توکیو لاسته راوړنه ده. د بېلګې په توګه: د تصدیو او کورنیو په څېر د دوو اقتصادي واحدونو تر منځ د ضرورت او اړتیــا وړ توکــي تبادله کیږي او یا د تصدیو، کورنیــواو دولت په څېر د دریو واحدونو تر منځ د توکیو او خدمتونو تبادله صورت نیسي.

دغــه دوران هغه مهال صــورت نیسي چې د ټولو دخیلو واحدونو شــیان او خدمتونه د ورته ارزښت لرونکي وي او دغه بیا هغه مهال صورت نیولای شي چې یوازې د اجناسو او خدماتو تبادله صورت ونیســی چې دغه ډول تبادله د جنسي دوران په نامه هم یادیږي.  اما د پیســو د شــتون له کبله د جنســی جریان تر څنګ په یوه اقتصاد کې پولي جریان هم شــتون لري چې د اقتصاد د دایروی جریان په پورته ذکر شویو دواړو جریانونو کې مد نظر نیول کیږي.


د بیلګي په توګه:  a یو اقتصادي واحد وی چې له b اقتصادي واحد څخه شــیان او توکي تر

لاســه کوي،  اما په مقابل کې یې a اقتصادي واحد b اقتصادی واحد ته د رانیول شــویو توکیو په مقابل کې پیسې ورکوي.

د پورتنۍ موضوع د لا ښه وضاحت په موخه د کورنیو چې د تولید لاملونه یې په لاس کې دي او تصدۍ چې دشیانو تولیدونکې دي،  په څېر د دوۀ اقتصادي واحدونو تر منځ د اقتصادي دوران یو ساده موډل په نظر کې نیسو.

پدې ځای کې ښکاری چې په اقتصاد کې یوازې مصرفي سکتور یعنې کورنۍ او تولیدی سکتور یعنې تصدۍ ځای لري. دولتي ســکتور او خارجي ســوداګریز سکتورپه دې موډل کې ځای نه لري او ددولــت له فعالیت نه پرته یــو تړلی اقتصاد په نظر کې نیول کیږي.په دې موډل کې ګورو چې مصرفي ســکتور یعنې کورنۍ د تولید لاملونه د تولیدي ســکتور یعنې تصدیو په اختیار کې ورکوي یعنې د تولید د عواملو جریان له کورنیو څخه تصدیو ته صورت نیسي او په مقابل کې یې کورنۍ له تصدیو څخه د مزد، معاش، رنټ او ربح په څېر د تولید د عواملو قیمت تر لاســه کوي. چې په دې ترتیب له تصدیو څخه کورنیو ته د عوایدو جریان صورت نیسي.

د تولید د هغو عواملو د ترکیب او استعمال له اثره چې کورنۍ یې د تولیدي سکتور په اختیار کې ورکوي، په تصدیو کې شیا ن او توکي تولیدیږي چې کورنۍ د خپلو احتیاجاتو او اړتیاوو د رفع کولو په موخه له تصدیو څخه همدغه تولید شوي شیان تر لاسه کوي. چېږه دې ترتیب د تولید د عواملو د پورته ذکر شــوي جریان تر څنګ دویم جریان هم شــتون لري چې د استهلاکي توکیو له جریــان څخه عبارت دی چې د جریان د حرکت ســمت یا لــوری یې د تولید د عواملو د جریان له سمت سره مخالف دی، په دې معنا چې په دغه دویم جریان کې مصرفي سکتور له تولیدي سکتور څخه د اړتیا وړ استهلاکي توکي تر لاسه کوي.



په مقابل کې يې مصرفي ســکتور يعنې کورنۍ د مستهليکينو د مصرفي مخارجو تر نامه لاندې توليدي سکتور يعنې تصديو ته د شيانو او خدمتونو قيمت ادا کوي.

پورتنی شــکل د static يا ســاکن اقتصاد يو موډل فرض کيږي چې د ناخالص ملي توليد او ملي مــصرف تر منځ يې يو تعادل شــتون لري، په دې مانا چــې د توليداتو د تقاضا مجموعه د هغې د عرضې له مجموعې سره مساوي ده.

په دې اقتصاد کې کورنۍ او تصدۍ هغه عوايد چې تر لاسه کوی يې، په مصرف رسوي. يعنې Y=C+Cپه دې معنا چې د کورنيو لګښــت جمع د کورنيو مصرف، له ملي عايد سره مســاوي دی. او يا ليکلای شــو چې Y=C يعنې ملي مصرف له ملي عايد سره مســاوي ده او يا ملي عايد له صفر سره مساوي ده .

له همدې کبله په ورته اقتصاد کې پس انداز يا سپما صورت نشي نيولای.

نــو څنګــه چې پدا ډول اقتصاد کې ســپما يا پس انــداز له صفر سره مســاوي ده، بناً خالصه مســتقله پانګه اچونه هم صورت نه نيسي بلکې يوازې تعويضی سرمايه ګذاري صورت نيولای شي. نولکه څنګه چې په ســاکن اقتصاد کې ســپما او پانګه اچونه صورت نه مومي نو د متعاقبي پايلي په توګه لوړ اقتصادي رشد هم شتون نه لري چې د غه ډول يوازې د اقتصاد يو خيالي شکل دی.

## په دايروي جريان کې سپما او پانګه اچونه

تر اوســه مو د کورنيو او تصديو په څېر د دوو اقتصادي واحدونو تر منځ له پولي جريان يعنې د استهلاکي توکيو د رانيولو په وړاندې د تادياتو او عايداتو د جريان په مقابل کې له جنسي جريان څخه يادونه وکړه او و پوهيدو چې دا ډول اقتصاد يو ســاکن يا غيرمتحرک اقتصاد دی ځکه پدې ډول اقتصاد کې کورنۍ او تصدۍ ټول ترلاســه کيدونکي يا ترلاســه شــوي عوايد په مصرف رسوي او د دوی پــه منځ کې هيڅ ډول ســپما صورت نه نيسي، له بله پلــوه د تقاضا مجموعه د توليداتو د عرضی له مجموعې سره مســاوي ده چې په دې صورت کې هيڅ ډول مســتقله پانګه اچونه يا سرمايــه ګذاري چې د لا نورو توليداتو د ايجاد ســبب ګرځي هم منځتــه نه راځي. پدې ځای کې اوس ددغو دوو واحدونو يعنې کورنيو او تصديو تر منځ د پولي جريان په شــکل د متحرک اقتصاد يا ..Dynamic Eco يو موډل مطالعه کوو.

پدغه اقتصادي موډل کې چې د دولت له لاس وهنې پرته يو تړلي اقتصادي موډل دی، د کورنې سکتور هغه ټول عوايد چې د توليد لامل ګرزي له توليدي سکتور يعنې تصديو څخه تر لاسه کوي، ټــول په مصرف باندې نه رســوي بلکې د خپلو عوايدو يو ه برخه د اســتهلاکي توکيو د رانيولو او اړتياوو د رفع کولو په موخه توليدي سکتور ته تاديه کوي او پاتې شوي برخه يې سپموي.

یعنې Y=C+S یا سپما جمع مصرف، د هغه د توزیع له مخی له ملي عاید سره مساوي کیږي.

چې په دغه معادله کې S=Saving، C=Consumption او I=Investment


چې دغه سپمول شوی مبلغ په متغیره دارائې یعنې V ته انتقالیږي چې بیا دغه سپمول شوي مبالغ په بانک او یا کریډیټی موسســاتو کې له ایښــودلو وروســته له هغه ځایه د سرمایه ګذارۍ په موخه شرکتونو ته انتقالیږي چې په دې توګه د کورنیو شــتمني د ســپمول شوي مبلغ په اندازه زیاتوالی مومي.

| C د کورنۍ بیلانس D | |
|---|---|
| 1000-Y | C800<br>S-200 |
| 1000 | 1000 |

| C حساب دارایی D | |
|---|---|
| 200-S | I-200 |
| 200 | 200 |

| C د تصدي حساب D | |
|---|---|
| 200-I | |
| 200 | |

لکــه څنګه چې پورته وویل شــول کورنۍ هغه ټول عواید چې د تولیــد د عواملو د واګذارۍ یا زیرمه کیدلو له درکه یې تر لاســه کوي بیا هم د اســتهلاکي توکیو د رانیولو لپاره ټول په مصرف باندې نه رسوي بلکې یوه برخه یې سپموي چې پدغه تسلسل اوپه دې صورت ټول ټولنیز محصول چې د تصدیو له لوري تولید شوی وی بازار ته نه عرضه کیږي. نو د هغي برخی عوایدو په اندازه چې د اســتهلاکي توکیو د رانیولو لپاره د کورنیو له لوري په مصرف باندې نه رســیږي او ســپمول کیږي، په همدې مقدار توکي له تصدیو څخه پاته کیږي چې په مجموع کې د سرمایه ګذارۍ په نامه یادیږي.




پــه دې صورت کې ســپما یا پس انداز له سرمایه ګذارۍ سره مســاوي کیــږي یعنې S=I او د

همدغه سرمایه ګذاري شــوي مقدار په اندازه د تصدیو دارایۍ یا کاپیټل زیاتوالی مومي. بناً د ملي عاید د استعمال د میتود له نظره لیکلای شو چې Y=C+I او یا سرمایه ګذاري جمع مصرف مساوي ده په ملي عاید د هغه د استعمال له نظره


لکه څنګه چې په تیرو بحثونو کې یادونه وشــوه په تصدیو کې زیات شوی جنس کیدی شي د ماشین الاتو، تعمیراتو، دستګاؤ او داسې نورو په څېر یو لړسرمایوي اجناس وي چې د لازیاتو توکیو او خدمتونو د تولید لپاره تري استفاده کیږي، د اداره شوي او یا پلان شوي سرمایه ګذارۍ په نامه یادیږي او یا دغه مقدار زیاته شوې دارایې کیدی شي دغیر ارادي اویا نا پلان شوي سرمایه ګذارۍ بڼه ولري . البته دا هغه پاتې شــوي توکي دي چې د متصدیانو له لوري پلور ته وړاندې شــوي وي اما د پیرودونکو له لوري نوي پیرل شــوي، هم د تصدیو د سرمایه ګذارۍ دیوي برخې په توګه په نظر کې نیول کیږي . په لنډه توګه ویلای شو چې د ولت له لاس وهنې پرته په تړل شوي متحرک اقتصــاد کې یوازې تعویضــی سرمایه ګذاري صورت نه نیسي بلکې د لازیاتــو توکیو او خدمتونو د تولید په منظور مســتقله سرمایه ګذاري منځته راځي نو پدي اســاس هر څومره پولي عواید چې د کورنیو له لوري پس انداز کیږي په تصدیو کې تولید شوي اجناس هم د پلان شوي یا ارادي سرمایه ګذارۍ او یا نا پلان شوي یا غیر ارادي سرمایه ګذارۍ په توګه باقې پاته کیږي.

## د اقتصاد په دایروي جریان کې بهرنۍ سوداګري

لړ وړاندې مو د اقتصاد ځینې موډلونه مطالعه کړل چې په هغوی کې بهرنۍ سوداګرۍ شتون نــه درلود، خوپه دې ځای کې د متحرک او ازاد اقتصــاد موډل چې خارجي تجارت هم پکي ونډه لري، د دولت له مداخلي پرته مطالعه کوو.

په دغه اقتصادي موډل کې پولي جریان نه یوازې دا چې د مصرفي ســکتور یا کورنیو او تولیدي سکتور یا تصدیو تر منځ د شیانو او خدمتونو د راکړې ورکړې په توګه مطالعه کوو، بلکې د خارجي نړۍ د تولیدي ســکتور تر منځ یې د بهرنۍ ســوداګرۍ د عوض په توګه هم مطالعه کوو. پوهیږو چــې په یوه معینــه دوره معمولاً یوه کال کې په یوه هیواد کې تولید شــوی اجتماعي محصولات باندنیو هیوادونو ته صادریږي چې دغه پروسه دصادراتو په نامه یادیږي.

د همدغو صادر شویو صادارتو د معادل ارزښت په عوض د تجارت د بیلانس د مازاد په عنوان د هیواد د دارایې حســاب په لور یو پولي جریان صورت نیسي. بر عکس هغه اجتماعي محصولات چې په باندنیو هیوادونو کې تولیدیږي او هیواد ته واردیږي د وراداتو په نامه یادیږي او د هغه د معادل ارزښت په مقابل کې د تجارتي بیلانس د کسر په عنوان یو مبلغ د هیواد د دارایې له حساب څخه باندېنو هیوادونو ته تادیه کیږي او د دغو صادراتي او وارداتي اقلامو تر منځ توپیر چې د پیسو په شکل افاده کیږي، د تجارت د بیلانس په نامه یادیږي.




د هیوادونو ترمنځ د تجارتي بیلانس دغه تفاوت ممکن په یوه دوره کې مثبت او یا منفي شکل ولري، په دې معنا چې کله په یوه معینه دوره کې دهیواد صادرات د هغې دورې تر وا رداتو لوړ شول یعنې Em<Ex نو په دې صورت کې د تجارت بیلانس مثبت شکل لري او د تجارت د مازاد په نامــه یادیږي. په دې صورت کې د تجارت د مازاد په اندازه له باندنیو هیوادونو څخه پولي جریان د هیــواد دارایې حســاب ته صورت نیسي. د همدې تفاوت په انــدازه د ملت خالص ثروت اضافه کیــږي، برعکس که چیرته په یــوه معینه دوره کې دهیواد وارداتو کچه د همدې دورې د صادراتو له کچې سره مساوي شي؛ نو په دې صورت کې د تجارت بیلانس صفر ګڼل کیږي او داسې انګیرنه کیږي چې په بهرنۍ سوداګرۍ کې تعادل موجود دی.

د یوه هیواد د تادیاتو بیلانس چې باندنیو هیوادونو ته د یوه هیواد تادیاتو له مجموعې څخه عبارت ده او په پسو باندې افاده کیږي له څلور ډوله مهمو بیلانسونو څخه تشکیله شوېده.

A- د اجناسو، اموالو او خدماتو بیلانس او یا په بل عبارت د سودا ګرۍ او فعالیت بیلانس BT=X-M.

B- د سرمایې د داد وستد یا راکړې ورکړې یا تبادلې بیلانس. یعنې BK=KF-KF . چې دسرمایې ورکړه په KF او د سرمایې اخستل پهKF سره ښودل شوېده.

C- د طلا او اســعارو بیلانــس BG=KG-GK چې په دې معادله کــې BG د طلا بیلانس، KG هیواد ته د طلا او اسعارو جریان، او KG له هیواد څخه د طلا او اسعارو جریان دی.

D- د بلاعوضــه انتقالاتو بیلانس. دهیواد دننه انفرادي انتقالات + هیواد ته د دولتونو انتقالات له هیواد نه بهر ته انفرادي انتقالات + بهر ته د دولت انتقالات = بلاعوضه انتقالات.

په یوه معینه دوره کې شــوني ده د پورته ذکر شویو څلور واړه بیلانسونو مجموعه مثبت او یا منفي شکل ولري چې په دې صورت کې نظر د ملي عاید توزیع ته لیکلای شو چې Y=C+S+T-M په دې معنا چې په متحرک او ددولت له لاس وهنې پرته په خلاص اقتصاد کې ملي عواید له لاندې فرمول څخه اســتخراج کولای شــو: د مملکت داخلي عواید+ هغه عواید چې له خارج څخه هیواد ته را نقل کیږي – هغه عواید چې له هیواد څخه بهر ته انتقالیږي.


پــه هغــه صورت کــې چــې S=I وي، نو دملي عاید د اســتعمال لــه نظره لیکلای شــو چې Y=C+I+Y-M او یــا M>X نو نظر پورتنۍ معادلې ته لیکلای شــو چې I=S+X-Mپه دې ترتیب چې دتادیاتو د بیلانس د ماذاد په صورت کې ددغه تفاوت په اندازه ملي ثروت زیات شــوی اوپه دې وخت کې پس انداز یا سپما نسبت سرمایه ګذارۍ ته زیات وي. برعکس که چیرته د تادیاتو د بیلانس تفاوت منفي شکل ولری،په دې صورت کې هیواد له بهر څخه قرضدار وي او یا د همدغه منفي تفاوت په اندازه ملي ثروت کم او د سرمایه ګذارۍ په اندازه پس انداز یا سپما لږه شوي وي.

## د اقتصاد په دایروي جریان کې د دولت وجود یا شتون

په دې اقتصادي موډل کې ددولت له لاس وهنې سره سره متحرک اقتصاد مطالعه کوو.

د ولت د یوه ســتر اداري ارګان په حیث په ټولو اجتماعي او اقتصادي چارو کې د یو ســیاسي قدرت ممثل کنټل کیږي او د تولید، خرڅلاو، صادراتو، وارداتو او داسې نورو موضوعاتو په باره کې مستقیم او یا غیر مستقیم دخالت لري او له مصرفي او تولیدي سکتور سره اړیکي لري، په داسې ډول چې دولت د خلکو او عامه اړتیاوو د پوره کیدلو او هغوی ته د ټولنېزو خدمتونو د مهیا کولو په غرض یوه اندازه پولي لګښتونو ته اړتیا لري، چې دغه منابع د مستقیمو او غیر مستقیمو مالیاتو په توګه له کورنیو او تصدیو څخه تر لاســه کوي او په مقابل کې یې دولت د کورنیو او تصدیو په وړاندې د طاقتي تادیاتو، خدماتي تادیاتو، انتقالي تادیاتو، امداد او پولي تقویې په څېر د مالیاتو له درکه را ټولې شوي پیسې په مصرف رسوي.

د مثال په توګه دولت کارګرانو او مزدورانو ته د هغوي د خدمت په بدل کې د مزد او معاش په توګه تادیات ور کوي چې د خدمتي او طاقتی تادیاتو په نامه یادیږي. همدا شان دولت کورنیو تــه انتقالي تادیات ورکوي او دغه ډول تادیات د هغو اشــخاصو لپــاره صورت نیسي چې د اقتصاد پــه تولیدی کال کې له سره د فعالیت ونډه نه لري مګر د اقتصاد په راتلونکو فعالیتونو کې تری د فعالیــت طمــع کیدای شي.د بیلګي په توګه د بیکارۍ د دوري مزد او معاش، تقاعدي او له کورنیو سره پولي کومکونه او داسې نور.




دولت برســیره پر دې چې له تصدیو څخه د sale tax, income tax او داســې نورو په نومونو مســتقیم او غیر مستقیم مالیات تر لاسه کوي، موسساتي مالیات هم ترلاسه کوي چې په مقابل کې یې دولت تصدیو ته د پولي تقویې په نامه مبالغ تادیه کوي.

پــه هغــه صورت کې چې د مســتقیمو او غیر مســتقیمو مالیاتو لــه لاري د دولت د عوایدو مجموعه نسبت مجموعي مخارجو ته چې د طاقتي تادیاتو، انتقالي تادیاتو او پولي تقویې په توګه تادیــه کیږي، زیاته شي په هغه صورت کې د دولــت د عوایدو او مخارجو ترمنځ توپیر د دولت د پس انداز په نامه یادیږي چې د دارایې حساب ته انتقالیږي.

نــا ویلي دي نوي پاته چې دولــت کولای شي د یوه شرکت په توګه هم سرمایه ګذاري وکړي او بازار ته شــیان عرضه کړي چې د دولت دغه فعالیت د تصدي په حساب کې ثبت کیږي، یا دولت کولای شي د عایداتي مدارکو د ترلاسه کولو په غرض د قرضې اسناد نشر کړي او عواید ترلاسه کړي.

د دولت بودجه له دوو برخو څخه تشــکیل شویده. یعنې د دولت د بودجې په یوه لوري کې مخارج او په بل لوري کې د دولت عواید درج شوي وي.

| C عواید | | د دولت بودجه | مخارج D |
|---|---|---|---|
| عادي عواید | مستقیم مالیات direct taxies<br>غیر مستقیم مالیات indirect taxies<br>فیس، اجرت و داسې نور گمرکي محصول | | د مالونو او خدمتونو سرمایه گذاری IST<br>شرکتونو ته د دولت بلاعوضه مرستي ZST |
| غیر عادي عواید | د قرضې اسناد<br>له مرکزي بانک څخه قرضه<br>له داخل څخه قرضونه<br>له خارج څخ قرضونه | | اشخاصو ته د دولت بلاعوضه مرستي<br>د قرضونو د تادیې وړ قسطونه<br>د قرضونو پولي تکت |

د دولت مخارج د شیانو او خدمتونو د اخستلو په موخه د ټولو هغو مصارفو او دولتي پانګه اچونې له مجموعې څخه عبارت دي چې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د بشري رفاه د تامین لپاره واقع کیږي.

په لنډه توګه ویلای شو چې د دولت له مداخلې سره سره په خوځنده یا متحرک اقتصاد کې انفرادي او دولتي سپما یا پس انداز د دولتي او انفرادي سرمایه ګذارۍ او د دولت د تادیاتو د بیلانس له مجموعې سره مساوي ده.

یعنې SPr+SST=IPr+IST+EX-IM

لکه څنګه چې مخکي ورنه یادونه وشوه د محتویاتو له نظره اقتصاد په دوو برخو باندې ویشل کیږی. چې په ماکرو اقتصاد یا لوی اقتصا د چې ځیني وخت د ملي اقتصاد په نامه هم یادیږي، زیاتره د اقتصاد کلي مسایل یعنې هغه اقتصادي فعالیتونه او متحولین چې له پراخو ملي مسایلو سره اړیکي لري مطالعه او څېړل کیږي.

د دغه ډول یعنې ماکرو اقتصاد متشکله اجزا د ملي سپما، د مصرف او پانګونې مجموعې، استخدام د عمومي سطح، په هیواد کې د قمیتونو سطح، پولي موضوعاتو او داسې نورو په څېر په مملکت کې د ټولو مجموعي فعالیتونو له څېړنې څخه عبارت ده.

د اقتصاد هغه برخه چې د کورنیو او تصدیو په څېر د اقتصاد د کوچنیو واحدونو فعالیتونه پکې مطالعه کیږي د مایکرو یا جزوي اقتصاد په نامه یادیږي. په یوه شرکت کې تولید، د یوې کورنۍ عواید او مصرف، په بازار کې د یوه توکي د قیمت تثبت او داسې نور، دورته اقتصاد د اړوند فعالیتونو ځیني بیلګي دي.

## د درېیم څپرکي لنډیز

په دې فصل کې مو یو لړ هغه روابط او اړیکي چې د کورنیو، تصدیو، بهرنی سودا ګرۍ سکتور او دولت تر منځ شتون لري مطالعه کړل.

د فصل په لومړیو کې د کورنیو او تصدي سکتور تر منځ جنسي او پولي روابط و څېړل شول چې په دې ترڅ کې د کورنیو له لوري تصدیو ته د ځمکې او سرمایې په څېر د تولید عواملو له په لاس ورکولو څخه یادونه وشوه، چې بیا په خپل نوبت سره د تصدیو له لوري کورنیو ته تیار شوي استهلاکي توکي عرضه کیژي. د دي تر څنګ یادونه وشوه چې دکورنیو او تصدیو تر منځ پولي جریان شتون لري یعنې کورنۍ د تولید د عواملو په بدل کې له تصدیو څخه د مزد، معاش، رنټ او ربح په څېر د هغوی قیمت تر لاسه کوي.

د فصل په اوږدو کې د کورنۍ او تصدۍ سکتور تر څنګ د کورنۍ، تصدي او د دارایي د حساب تر منځ اړیکي واقع کیږي، په دې معنا چې کورنۍ او تصدۍ خپل پس انداز یا سپمول شوې پیسې د دارایۍ حساب ته انتقال کوي چې په دې توګه د پس انداز ایجاد منځته راځي او دغه پس انداز په اقتصاد کې د سرمایه ګذارۍ په موخه عرضه کیږي او هم د بهرنۍ سوداګرۍ سکتور منځته راوړي. یعنې په تصدیو کې تولید شوي توکي خارج ته صادریږي او په بدل کې یې د بهرنیو اسعارو په بڼه هیواد ته عواید را بهیږي نو په دې اساس هر کله چې د هیواد دوارداتو په پرتله د صادراتو کچه زیاته شي، دغه حالت ته د تجارت ماذاد ویل کیږي، اما که چیرته تر صادراتو د وارداتو کچه زیاته شوه نو په دې حال کې د تجارت بیلانس له کسر سره مخ بلل کیږي.

د دې تر څنګ د کورنیو او تصدیو تر منځ د پولي جریان له شتون څخه یادونه وشوه. یعنې کورنۍ د تولید د عواملو په بدل کې له تصدیو څخه د مزد، معاش، رنټ او ربح په څېر د هغوی قیمت تر لاسه کوي.

د سکتور یا اقتصادي واحدونو تر څنګ دولت په اقتصاد کې د یوه سیاسي ارګان په حیث ستر رول لري چې د عوایدو او مصارفو درلودونکی دی. دولت د خپلو مصارفو د تمویل په موخه له کورنیو او تصدیو څخه مالیه اخلي او له هغه څخه د عامه خدمت او کاري نظام د انسجام په برخه کې استفاده کوي.

## د درېیم څپرکي پوښتنې

۱- فرانسوا کینه څوک و، معلومات ورکړئ؟

۲- د کورنۍ او تصدۍ تر منځ د توکیو جریان څه ډول صورت مومي واضح یې کړئ؟

۳- له ساکن او متحرک اقتصاد څخه مقصد څه شی دی معلومات ورکړئ؟

۴- که چیرته تر وارداتو د صادراتو کچه زیاته شي،په دې صورت کې تجارت کسر لري او که ماذاد؟

۵- پس انداز یا سپما په څه توګه منځته راځي؟

۶- یوه کورنۍ خپل عواید په څه توګه پلان کوي؟

۷- د ملي عاید فرمول ولیکي ؟

۸- په تجارت کې تعادل څه ډول تر لاسه کیږي؟

۹- د دولت عادي او غیر عادي عواید کوم دي واضح یې کړئ؟

۱۰- له پولي نظره د دولت، کورنیو او تصدیو تر منځ اړیکه څنګه ده واضح یې کړی؟

# څلورم څپرکی

## د کورنۍ لګښت تیوري

**ټولیزه موخه:**

د مصرف، عاید او داسې نورو په څېر له کورنۍ سره د تړلیو موضوعاتو زده کړه.

**د زده کړې موخې:** د دې څپرکي له ختمېدلو وروسته باید محصلین او شاګردان و پوهیږي چې:

- کورنۍ څه شی ده؟
- د کورنۍ پلان څه شی ده؟
- د تقاضا تابع څه شی ده؟

### په اقتصاد کې د کورنۍ مفهوم

کورنـــۍ له هغــه اقتصادي واحد څخه عبــارت ده چې د خپلو اړتیاوو د رفــع کولو په موخه اقتصادي توکي مصرف او استعمالوي.

پــه بــل عبارت د کورنیو یوازنۍ موخه د خپلو اړتیاوو رفع کېدل دي په دې معنا چې د اړتیاوو د رفع کیدلو په ترڅ کې یې یا خو د اســتهلاک له ا مله یو اقتصادي توکی محوه اوبیخي له منځه ځي او یا یې د استهلاک له کبله په ارزښت کې لړوالی راځي.

د مصرف دغه لنډ مفهوم په حقیقت کې د مارشال او ادم سمیت په څېر د یو شمیر کلاسیکو اقتصاد پوهانو له لوري وړاندې شــویده. خو ورځنۍ اقتصــادي تیوري، مصرف د یوه پراخ مفهوم په توګه اســتعمالوي،په دې معنا چې نه یوازې د اموالو استهلاک بلکې دخدمتونو استهلاک هم په مصرف او د کورنۍ سطحي په اقتصادي جریان کې داخل بولي.

لکه مخکي چې ورنه یادونه وشــوه نه یوازې دا چې د یوه توکي بشــپړ اســتهلاک یا له منځه تــګ د مــصرف په نامه یادیږي، بلکې محــض د یوه توکي خریداري، ولو کــه نوموړی توکی هیڅ نوي مصرف شــوی، هم د مصرف په ســتون کې ځای نیسي. په بل عبارت هر توکی چې کورنۍ یې اخلي پرته لدې چې یو ځلي اســتعمال، اســتهلاک او مصرف یا ځوځلي هغه په نظر کې ونیول شي د کورنۍ په مصارفو او لګښــتونو کې حســابیږي. د مثال په توګه: کله چې یوه کورنۍ د شــیانو او خدمتونو د اخستلو په موخه پیسې تادیه کوي، که څه هم د غه توکي تر اوسه پوري استعمال ته نوي وړاندې شوي بیا هم د پیسو دغه تادیه یا ورکړه دیوې کورۍ په لګښتونو کې شمېرل کیږي . نوپدې اساس د کینز له نظره د شیانو او توکیو د رانیولو له درکه دیوې کورنۍ ټول مخارج د هغې کورنۍ د مصارفو په نامه یادیږي، چې دغه مفهوم تر نن ورځې پوري د عتبار وړ او له هغه څخه استفاده کیږي.

## د کورنۍ اقتصادي پلان

هره کورنۍ د یوه ځانګړي او مشــخص اقتصادي پلان له مخې پریکړي کوي چې په راتلونکي دوره کــې کوم شــیان او خدمتونه په څه اندازه واخلي او د دغو لګښــتونو لپــاره څه مقدار مبلغ ځانګړی کړي.

نو هغه سنجش چې په ترڅ کې یې دا ډول پریکړي کیدای شی، د یوې کورنۍ د اقتصادی پلان په نامه یادیږي. د یوې کورنۍ د اقتصادي پلان مهم ټکي په لاندې ډول دي.

a- د عاید د برابرولو پلان.

b- د عاید د استعمال پلان.

**د عاید د برابرولو پلان:** د عاید د برابرولو پلان له هغه پلان څخه عبارت دی چې له مخې یې کورنۍ د عاید د ترلاسه کولو لاري چاري په ګوته کوي.

لکه مخکي چې و ویل شــول یوه کورنۍ د عاید د برابرولو په موخه مجبوره ده چې د کار او خدمت کولو خپل اســتعداد بازار ته عرضه کړي او په مقابل کې یې عواید تر لاســه کړي. او یا د ځمکي او نور زیرمه شوي ثروت د پلور له درکه عواید تر لاسه کړي.

**د عاید د اســتعمال پلان:** د عاید د اســتعمال پلان له هغه پلان څخه عبارت ده چې د کورنیو له لوري تر تیب کیږي او له مخې یې تصمیم نیول کیږي چې د ترلاســه شــوي عاید کومه اندازه د

ژوندانه داړتیاؤ د لري کولو په موخه د وســـایلو په رانیولو مصرف کړي او کومه اندازه یې د ثروت او سرمایې د تشکیل په موخه ځانکړي کړي.

## د کورنۍ د اقتصادي پلان موخه

د کورنـــۍ د اقتصادی پـــلان موخه د مطلوبیت د لوړ حد له لاســـته راوړلو او یا په غوره توګه داړتیـــاؤ د رفـــع کیدلو له هڅو څخه عبارت ده. او یا په بله وینا د کورنۍ د اقتصادي پلان موخه د اړتیاوو د رفع کیدلو په غرض د دوي په اختیار کې د شـــته وســـایلو او سرچینو له اغیزمن استعمال څخه عبارت ده، په داسې ډول چې دوسایلو دغه استعمال د غوره مجموعي پایلي له لاسته راوړلو او خپلو ټاکل شویو موخو ته د کورنۍ له نژدي کیدلو سره مرسته وکړي.

د کورنـــۍ د اهدافـــو پتییـــل د هغوی له ترلاســـه کیدلو سره مرســـته کوي چې پـــه درې ډوله څرګندېږي:

۱- کـــه د یوي کورنۍ اړتیاوي معیني او مشـــخصي وي، په دې صـــورت کې هڅه کیږي چې له ممکنه لږو وسایلو څخه په ګټه اخستلو سره دغه اړتیاوي پوره شي.

۲- که د کورنۍ په اختیار کې شته وسایل او امکانات معین او مشخص وي،په دې صورت کې هڅه کیږي تر څو ددغو وسایلو په واسطه د شونتیا تر کچې زیاتی اړتیاوي او احتیاجات رفع شي.

۳- هڅه کیږي تر څو د ممکنه لږو وسایلو د استعمال په مټه زیاتره اړتیاوي رفع شي.

په دې ترتیب دپورتنۍ وینا له مخې کولای شو په لنډه توګه اقتصاد داسې تعریف کړو:

اقتصاد له یو لړ بشري فعالیتونو او روشـــونو څخـــه عبارت دی چې په ترڅ کې یې د محدودو سرچینو په مرسته نا محدوده اړتیاوو ته د ځواب ویلو هڅه کیږي.

## د کورنۍ د اقتصادي پلان اجزآ

هغه مهم اجزا چې دیوې کورنۍ اقتصادي پلان مشخص کولای شي له عوایدو، نرخونو، قیمتونو او اړتیاوو څخه عبارت دي. قیم یا نرخونه یو بهرنی عامل دی چې د کورنیو د قدرت او کنټرول له ساحې څخه بهر دی. ځکه کورنۍ د نرخونو د تعین په برخه کې چندان رول نه لري اما د کورنۍ په اقتصادي پلان کې مهم نقش لري.

د نیمګړتیاؤ د ترکیب په توګه اړتیاوي او د هغوي رفع کېدل یوه نفس (ځاني) موضوع ده چې د هر شـــخص په وړاندې متفاوت اغیز او اثرات لري او په بعضې مواردو کې یې تعین کیدل خورا

ستونزمن وي. له همدې کبله ویلای شو چې عواید او نرخونه په ارقامو افاده کیږی اما اړتیاوي او احتیاجات په اعدادو او ارقامو باندې نشو افاده کولای.

د هغي کورنۍ عواید چې په یوه اقتصادي دوران یعنې یوه کال کې د اړتیاوو د رفع کیدلو په منظور تري استفاده کیږي، له لاندې اجزاؤ څخه تشکیل شویدي.

a- ټولي هغه نغدي پیسې چې له کورنۍ سره موجودي دي.

b- هغه عواید چې کورنۍ یې انتظار باسي ( متوقعه عواید).

c- هغه مبلغ چې کورنۍ یې له کریډیټی سرچینو څخه ترلاسه کوي(استقراض).

د یوي کورنۍ د عوایدو پورتني اجزا د دي مطلب ښـکارندویې کوي چې کورنۍ په څه اندازه مـصرف او لګښـت کولای شي، اماپه دې ځای کې ویل کیـږي چې د مصرف اندازه یا د هغو توکیو میچه چې کورنۍ یې اخلي، په عمومي توګه د نورو امکاناتو له مخي نه تعینیږي بلکې د اخسـتلو د قدرت یعنې هغو پیسـو د مجموعي له مخي تعینیږي چې په رښـتني توګه د دغو مصارفو لپاره ځانګړي شویدي. او دا هغه برخه عواید دي چې کورنۍ یې د اقتصادي پلان د طرحي په ترځ کې د توکیو د رانیولو لپاره ځانګړي کوي.

د یـوې کورنۍ عوایـد معمولاً په دوو ډولونو د اسـتعمال لپاره ځآنګړي کیـږي چې یو یې د استهلاک یا consumption او بله برخه یې د سپما یا saving په توګه . نو ویلای شو چې کورنۍ له یوه لوري د مصرف او لګښت پلان او له بله لوري د سپما د پلان در لودونکي دی. د بیلګي په توګه د پـلان د دوری پـه پیل کې یعنې دکال په پیل کې د کورنۍ له لوري د مصرف پلان داسـې ترتیب کیـږي چې ۸۰٪ عوایـد د مصرف لپاره ځانګړي شي نوپه دې صورت کـې د کورنۍ د پس انداز یا سپما پلان له هغه جز څخه عبارت دی چې د مصرف د پلان په واسطه منځته راځي. او یا بر عکس امکان لري چې یوه کورنۍ لومړی د سـپما پلان طرحه کړي په دې ترتیب چې خپل ۲۰٪ عواید د سپما لپاره ځانګړي کړي، په دې صورت کې د لګښت پلان له هغه جز څخه عبارت دی چې د سپما د پلان په واسطه منځته راځي.په دې معنا چې دکوم فرعي پلان له درلودلو پرته یوه کورنۍ کولای شي د مصرف په منظور له دغو ځانګړیو شویو عوایدو څخه استفاده وکړي . خو ځیني وخت داسې هم کیږي چې د کوم پلان له درلودلو پرته له ټولو اصلي عوایدو څخه د مصارفو په موخه استفاده کیږی او د دورې په اخیر یعنۍ د کال په اواخرو کې باقیمانده مبلغ د سپما په توګه سرمایه ګذاري کوي چې دغه پیښه تر ډېره ځایه په روسته پاته هیوادنو کې دود لري.

د کورنۍ په اقتصادي پلان کې لاندې درې موضوعات خورا اهمیت لري.

a- د تقاضا جوړښت.

b- د هغو عوایدو میچه چې د مصرف لپاره ځانګړي شوي وي.

c- د اړتیاو وړ توکیو قیمت.

د یادونې وړ ده چې پورته ذکر شوي دري واړه عناصر د تقاضا د منحني یا Demand curve د اشتقاق لپاره خورا اهمیت لري.

## د تقاضا تابع یا Demand curve

په اقتصاد کې تقاضا د غوښتني او اړتیا په بڼه د هغې په عام مفهوم نده معنا شوي، بلکې تقاضا د مستهلک د علاقمندۍ او د یو لړ مالونو او خدمتونو رانیولو ته د مستهلک د امادګۍ په معنا استعمال شویده.

پدې بر سیره، تقاضا له هغه مقدار شیانو او خدمتونو څخه عبارت ده چې یو مستهلک او یا یو تعداد مستهلکین یې په یوه معین قیمت سره د پیسو په بدل کې اخستلو ته تیار وی.

معمولاً د تقاضا په تیوري کې د تقاضا جوړښت د یوه حقیقت یاfact په توګه فرض کیږي، نو دوه جزونه چې له عوایدو او نرخ څخه عبارت دي د تقاضا په تیوري کې د اهمیت وړ دي .په دې اساس د تقاضا په تابع کې دغه دوه جزونه خورا مهم نقش لري. نو ویلای شو چې د تقاضا تابع د توکیو له نرخونو سره د هغوی دتقاضا د مقدار اړیکه په ګوته کوي.

او یا په بل عبارت د تقاضا تابع ښیې چې د شیانو نرخونه په څه پیمانه وي، ترڅو د کورنیو تقاضا پوره شي.

کله چې موږ د یوه شي له قیمت څخه د تقاضا رابطه اشتقاق کوو، یوه رابطه پلاس راځي چې د تقاضا د رابطې په نامه یادیږي. دغه رابطه له (Xa=FCPa) څخه عبارت ده. چې Xa د یوې متاع د تقاضا مقدار د Pa یعنې هغې متاع د قیمت تابع وی.


په بل عبارت د تقاضا رابطه ښیې چې د یوه شي د خریدارۍ مقدار د هغه شي د قیمت تابع دی.

د شي مقدار x=a

د شي قیمت p=a

پوهیږو چې د شیانو د لوړو قیمتونوله کبله د اجناسو تقاضا کمه او د ټیټو قیمتونوله کبله د یوه جنس تقاضا زیاته وي، نو لیکلای شو چې C=Pa.Xa چې په دې معادله کې a یوه متاع، P د همدغه شي نرخ، X د همدغه توکي مقدار او C هغه مقدار عواید دي چې د مصرف لپاره ځانګړي شویدي.

فرضـاً کــه C پولي واحد فرض کړو نو که چیرته د شي یا متاع قیمت تغیر وکړي، طبعي ده چې د تقاضا مقدار هم تغیر کوي.




| قیمت | د تقاضا مقدار |
|---|---|
| 25 | 1 |
| 20 | 2 |
| 15 | 4 |
| 10 | 6 |
| 5 | 10 |

لکه څنګه چې د تقاضا په پورتنۍ منحني کې ښــودل کیږي که چیرته د a توکي قیمت له ۲۵ افغانیــو څخــه ۲۰ افغانیو ته راښــکته شي، ددغه توکي لپاره د تقاضا مقــدار xa له یوه څخه دوو واحدونــو ته زیاتوالی مومي. همداشــان که چیرته د نوموړي شي قیمــت د دریم ځل لپاره له ۲۰ افغانیو څخه ۱۰ افغانیو ته راښتکته شي،په دې صورت کې د نوموړي شي د تقاضا مقدار له ۲ څخه ۶ واحدونــو تــه زیاتوالی مومی . یعنې د نرخونو له رالویدلو سره د تقاضا مقدار اضافه کیږي نوپه دې اســاس ویلای شــو چې د تقاضا منحني له چپ لوري څخه ښــي لوري ته یو نزولي میل لري او دغه رابطه د یوه شي د قیمت په نسبت د هغه شي د مقدار ښودونکي ده.

پاتــې دې نــه وی چې په بازار یاپلورنځي کې یو توکي په بل توکــي باندې خپله اغیزه لري نو د یــوه شي د تقاضــا مقدار په عمومي توګه یوازې د هغــه د نرخ له کبله نشي تعینیدلای، بلکې په

لاندې عناصرو پورې هم تړاؤ لري.

۱- د یوه شي د قیمت په واسطه چې اثرات یې پورته ذکر شول.

۲- د هغو ټولو توکیو د قیمت په واسطه چې یوه کورنۍ ورته اړتیا لري.

۳- د هغو عوایدو د مقدار په واسطه چې د مصرف لپاره د کورنۍ له لوري ځانګړي شوي وي.

همدا رنګه د یوه شي د اخستلو او د نفوسو زیاتوالی په برخه کې ترجیح د تقاضا د مقدار په تعین کې مهم نقش لري. د تقاضا د تابع بشـــپړ شـــکل چې په هغه کې یوازې دیوه توکي د قیمت رابطه په نظر کې نوي نیول شـــوي نده، بلکې د یوه شي د نرخ او ټولو اړوندو توکیو د قیمتونو له مخې د هماغه توکي د تقاضا مقدار په نظر کې نیول د تقاضا د تابع بشـــپړ شـــکل دی چې په دې اساس (Xa=FCPa) پخوانۍ تابع لاندې شکل غوره کوي.

Xa=FCPa, Pb,Pc…..Pn

څنګه چې پورتنۍ اړیکه د مجموعي قیمتونو له مخې اشتقاق شویده یعنې امکان لري د یوه توکـــي د قیمت د تغیر له امله د بل توکـــي قیمت او د کورنۍ د ټولو اړتیا وړ توکیو قیمتونه تغیر وکړي، نو ویلای شو چې د قیمتونو تر منځ هم یوه نسبي اړیکه شتون لري.

لکه څنګه چې پوهیږو(C=(Xa.Pa، ده نو کولای شـــو پورتنی فرمول په لاندې بڼه چې د څو شیانو د تقاضا د رابطې ممثله ده و لیکو چې د پولي تقاضا په نامه هم یادیږي .

C=Xa.Pa+Xb.Pb+Xc.Pc+Xn.Pn

پورتنې معادله چې د کورنیو د بیلانس په نامه هم یادیږي، ښیې هغه عاید چې د مصرف لپاره ځانګړي شویدي د نوموړي شي په قیمت کې ضرب د مالونو له مجموعي مقدار سره مساوي دي.

## د انتخاب یا عدم رجحان د تیورۍ په اساس د تقاضا رابطه

لکـــه مخکـــي چې ورنه یادونه وشـــوه دیـــوه شي دتقاضا مقدار د هغـــه شي د قیمت له مخې تعینیـــږي او کـــه چیرته د کورنۍ مورد نظر توکي سره ورته وي نو د تقاضا د منحني ترســـیم خورا ساده کار ده. اما که چیرته مختلف توکي په نظر کې ونیسو نو د تقاضا د منحني د پیداکیدلو کار ستونزمن کېږي نوپه دې اساس د عدم رجحان یا انتخاب له تیوري څخه د تقاضا د رابطې د اشتقاق په موخه اســـتفاده کوو. دغه تیوري د مشـــهور ایټالوي اقتصاد پوه Vitred pareto او انګلسي عالم Edgee worth له لوري منځته راغلې.

نومـــوړو علماؤ دعـــدم رجحان د تیوري د وضاحـــت په موخه له (پایه نهایـــې تعویض) څخه استفاده کړیده.

A- د تعویض یا بدلون بنسټ ایښودنه

د بدلون بنسټ ایښودنه د دې ښودنه کوي چې کورنۍ څنګه کولای شي یو توکی په بل توکي باندې داســې عوض کړي چې د احتیاج په رفع کیدلو او د لوړ مطلوبیت په لاســته راوړلو کې یې تغیر رانشي.

یعنــې کورنــۍ اصلاً دا ړتیاوو د رفــع کیدلو او اعظمي مطلوبیت د لاســته راوړلو په غرض له مختلفو او متعددو شیانو څخه استفاده کوي او ځیني وختونه خو لا له خپلو حاصل شویو عوایدو څخــه نــشي کولای خپل ټول د اړتیا وړ توکي وپېري له همدي کبله له یوه توکي نه داســتفادې په موخــه د بل توکــي د نه رانیولو اکتفا کوي . او یا دیو تعداد توکیو له رانیولو او اخســتلو څخه په بشپړه یا قسمي توګه صرف نظر کوي او د هغوی په عوض د ځینې نورو توکیو تقاضا کوي.

نــو د دویــم توکي د تقاضا د صرف نظر کولو له اثــره د لومړي توکي د تقاضا د واحد ازدیاد یا زیاتوالــی د پایــه نهایي تعویض په نامه یادیږي او یــا د دویم توکي د تقاضا دانحراف له اثر د یوه توکي د تقاضا د زیاتوالي اندازه د پایه نهایي تعویض په نامه یادیږي.


پــه بل عبارت د دویم توکــي د تقاضا د مقدار د زیاتوالي په مقابل کې چې دکورنۍ لپاره ورته مطلوبیــت لري، د یوه توکــي د تقاضا کموالي د پایه نهایي تعویض په نامه یادیږي. د یوې کورنۍ لپــاره د عدم رجحان یا انتخاب منحني هم خورا اهمیت لــري. لرغونو اقتصاد پوهانو مفیدیت یا ګټورتوب د یوه کیفیت په توګه چې ګواکي د یوه شي مطلوبیت زیاتوي تعریف کوی. دا چې دوی مفیدیت د یوه کیفیت په حیث د اندازه ګیري وړ باله، څه ځنډ روســته د مفیدیت دغه پخوانۍ تلقي له منځه لاړه او عقیده په دې شــوه چې مفیدیت یا ګټورتوب د اندازه ګیري او جمع کېدلو وړ نده، نو د همدې تغیر په اســاس د یوه توکي د مصرف ا واســتهلاک د وړتیا له پرتله کولو څخه په استفادی سره مفیدیت هغه میزان یا مقیاس ته ویل کیږي چې په مټه یې یو توکی په بل توکي باندې عوض کیدی شي، په داسې ډول چې د مفیدیت سطحه تغیر و نکړي.

هغه منحني یا قوســونه چې دمفیدیت د ســطحي ښــودنه کوي د بې تفاوتــه منحني یا عدم رجحان د منحني په نامه یادیږي. د عدم رجحان دغه منحني د هغو توکیو د ترکیب ښــودنه کوي چې هر یو یې مســتهلک یا مصرف کونکي ورته یوشــان ګټورتوب ور ښــې او مســتهلک یې په وړاندې بې تفاوته وي.

لکه مخکي چې و ویل شول کورنۍ د مصرف په موخه د مختلفو او متعددو توکیو تقاضا کوي، اماپه دې ځای کې فرض کیږي چې یوه کورنۍ یوازی دوو شیانو ته اړتیا لري. څنګه چې کورنۍ ته د رانیولو په لړ کې د دغو دوو شــیانو بیلابیل ترکیبات میسر دي نو له همدې کبله دغه دوه توکی باید په داســې نسبت سره ترکیب شي چې اعظمي مطلوبیت وبښي. د مثال په توګه څنګه چې په

رسـم کې ښـودل کيږي د A,B,C,D په نقطه کې د X۲, X۱ د ترکيب مختلف امکانات ميسر دي چـې د D په نقطه کې کورنۍ اعظمي مطلوبيت تر لاسـه کوي. ځکـه کورنۍ د X۲, X۱ توکيو د زيات پير يا اخسـتلو له کبله کولای شي خپلې زياتې اړتياوې رفع کړي اما دې ټکي ته بايد پام وشي چې هرکله د B نقطه چې د A د نقطې په پرتله دX۲, X۱ توکيو د ترکيب د لوړ مقدار ښـودنه کوي، انتخاب کړو بايد زيات عايد په لاس کې ولرو.

د D په نقطه کې د X2, X1 توکيو د ترکيبي مقدار په منظور د A,B,C د نقطو په پرتله زيات عايد ته اړتيا ليدله کيږي.





دغه موضوع له لاندې شکل څخه په وضاحت سره ليدله کيږي. په لنډه توګه ويلای شو، هغه روېش يا ميتود چې د يوه توکی په وړاندې د بل توکی د رانيولو امتياز نه ورکوي د عدم رجحان يا بې تفاوته روش د منحني په نامه ياديږي چې د دوه ډوله توکيوله مختلفو ترکيبونو څخه په داسې توګه منځته راغلې وي چې هر يو ترکيب يې د کورنۍ لپاره ورته مطلوبيت ولري.

او د دغـو دوو توکيـو د مختلفو ترکيبونو د انتخاب پـه برخه کې کورنۍ په هيڅ ډول رجحان يـا امتياز باندې قايله نـشي، او د (indifference curve) يا عدم رجحان د منحني په نامه ياديږی او يا په بله وينا ويلای شـو چې د عدم رجحان منحني د توکيو متخلف ترکيبي صورتونه ښيې چې ورته مطلوبيت ښيي.

لکه څنګه چې په لاندې شکل کې ليدل کيږي دغه منحني ښيي چې د عايد د يوه ثابت مبلغ

له مد نظرنیولو سره که چیرته د x۱توکي زیاته اندازه واخســتله شي،  پکار ده چې د x۲په نامه د دویمي توکي کمه اندازه خریداري شي تر څو کورنۍ ته ورته مطلوبیت ور وبښل شي یعنې د یوه توکي د پیر زیاتوالی د بل توکي د پیر دکموالي لامل ګرزي او یا د هغه برعکس.





د عدم رجحان منحني د لاندې خصوصیاتو درلودونکي ده.

د عــدم رجحــان یا بي تفاوتي د منحني یو فني خاصیت دا دی چې تمایل یې تل له پاســه لوري څخه ښکته او له کینې لوري څخه ښي لوري ته ده. د عدم رجحان د منحني دغه خاصیت څرګندوي چــې یــو توکی د بل توکي په مقابل کې داســې عوض کیږي چې د عــدم رجحان په منحني کې د مــصرف کوونکــي د رضایت او قناعت اندازه ثابته پاتي کېږي یعنــې که د یوه شي مصرف زیاتوالی وکړي د بل توکي مصرف باید لیږوالی وکړي .


د عدم رجحان د منحني بل خاصیت دا ده چې دغه منحني هیڅکله هم یو له بل سره نه قطع کــوي. ځکه د عدم رجحان هره منحني دکورنۍ د هغه معین عاید ښــودنه کوي چې د مصرف او لګښــت لپاره ځانګړي شــویده. د کورنۍ د غه مصرف کیدونکي مبالغ یعنې C د کورنۍ د بیلانس یا کورنۍ دلګښت په نامه هم یادیږي.

لکه څنګه چې په شکل کې لیدل کیژی د ab مستقیم د یوي کورنۍ دبیلانس مستقیم ده چې له لاســته راتلونکي عاید څخه د یوي کورنۍ دمصرف د امکاناتو ښودنه کوي. که چیرته کورنۍ په هغوټولو عوایدو چې دمصرف لپاره ځانګړي شــویدي، یوازی یو توکی واخلي، په دې صورت کې د دغــه شي oa مقدار خریداري کولای شي، برعکس که کورنۍ تصمیم ونیسي چې له خپل دغه عاید

ځخه یوازې x۲ توکی واخلي په دې صورت کې یوازې ob مقدار خریداري کولای شي.چې دغه دواړه پورته ذکر شوي حالتونه افراطي حالات ښيي، ځکه پدي صورت کې مستهلک غواړي یوازې له یوه توکي ځخه مستفید شي او له بل ځخه يې په بشپړه توګه صرف نظر وکړي.




لکه مخکې چې وویل شـــول د بې تفاوته تیوري په اســـاس د کورنۍ په اختیار کې دا امکانات شته چې له خپلې مصرفي بودجې ځخه داسې استفاده وکړي تر څو له دواړو ذکر شویو توکیو ځخه هغه مقادیر واخلي، کوم چې دوی ته تر ټولو اوچت رضایت ور وبښـــي. نوپدې اساس د ab او ob د دوو نقطـــو تر منځ نور متعدد امکانات مثلاً د R نقطه یعنې هغه نقطه هم شـــته چېرته چې د بودجې د مســـتقیم خط د عدم رجحان په منحني باندې مماس واقع شوی دی او مصرف کوونکي ته د شته مبالغو په مرسته د رضایت لوړه پیمانه ور وبښي شتون لري.



دا چــې کورنــۍ د څه مقدار x1 او څه مقدار x2 توکي تقاضــا کولای شي، دغه غریزه اصلاُ د دواړو توکیو د قیمتونو په نسبت پوري اړه لري او یا په بل عبارت څرنګه چې د کورنۍ د بودجې ترکیب د قیمتونو له نسبت یعنې د x2,x1 څخه عبارت ده نوپه دې توګه د x2,x1 توکیو قیمتونه له c=x1.p1 او c=x2.p2 له معادلې څخه په لاندې توګه استخراج کوو.

$$TG=X1/X2$$

څرنګه چې X1=C/P1 او X2/C/P2 ده، نو د هغوی قیمتونه په پورتنۍ معادله کې وضع کوو.

$$TG=\frac{\frac{C}{P_1}}{\frac{C}{P_2}} \quad \text{او} \quad \frac{P_2}{P_1}=\frac{C}{P}\cdot\frac{B}{C}$$

یا په بل عبارت د R د توازن نقطه را ښــیې چې د X2,X1 نقطو تر منځ تناســب په تعویضي توګه صورت نیسي پرته لدې چې د کورنۍ د مطلوبیت په حصول کې کوم تغیر رامنځته شي.په دې صــورت کې د ۲ رقم را ښــیي چې هر وخت د X1 دوه واحــده د X2 توکي په یوه واحد باندې د عوض کیدلو وړ ده پرته لدې چې د کورنۍ د مطلوبیت په حصول کې کوم تغیر راشي.

$$=R\frac{X2.P2}{X1.P1}=\frac{10}{5}=2$$

د یادونــې وړ ده چې د دوو جنســونو د مکــرر تعویض له اثره د پایــه نهایي تعویض مخ په لږکیدلو ده. دا چې ولې د شــیانو د مکرر تعویض له اثره د پایه نهایي تعویض لږوالي مومي د رول ګوســن Gossen په قانون باندې متکي ده. دا قانــون وایې چې دیوې متاع د مقدار د ډېروالی له کبله د هغې متاع تقاضا لږوالی مومي. یا داچې د اړتیاوو د اشباع یا مړښت حالت لاسته راځي او د شــیانو له زیات تعویض څخه صرف نظر کېږي. او یا ویلای شــو په هره اندزه چې د یوه شي د مقدار مجموعه زیاتیږي په هغه اندازه یې مطلوبیت لږوالی مومی.

موږ کولای شــود رول ګوســن له قانون څخه دویم قانون اســتخراج کړو په دې معنا چې که چیرته یوه کورنۍ دخپل مصرف په عوض دوه یا زیات توکي انتخاب کړي په دې صورت کې دویم قانون د تطبیق وړ دی چې وایې: د یوه شي د مصرف له نقطې څخه د یوې کورنۍ غوره موقعت هغه وخت دی چې د مختلفو توکیو د اخســتلو په ترڅ کې یې د پیســو نهایي مطلوبیت سره ورته یا مســاوي وي. نو په دې اســاس د مطلوبیت تر څنګ دویم قانون د شي قیمت هم پټځان کې را نغاړي. یا داخلوي. بناً نظر دې قانون ته ویلای شو چې د کورنۍ لپاره د مصرف غوره موقعت هغه مهــال میــسر کیدی شي چې د مختلفو توکیو نهایي مطلوبیت د همدغو توکیو د قیمت د تناســب غوندي وي.

او هغه مبلغ چې کورنۍ د مصرف یا لګښت لپاره ځانګړی کړیدی په داسې توګه مصرف کړي چې اعظمي مطلوبیت تر لاسه کړي.


**B- د عاید او قیمت تغیرات:**

**a- د عاید تغیر:** لکه څنګه چې پوهیږو د کورنۍ د عوایدو د زیاتوالي او د شـیانو د قیمت د ثبات په صورت کې د کورنۍ د رانیولو قدرت زیاتوالی مومي چې په دې صورت کې کورنۍ زیات مقـدار معین توکي اخسـتلای شي او د عاید او مصرف له نظره غوره موقعت ترلاسـه کړي چې د عایداتي تاثیر یا income effect په نامه هم یادیږي.

د مثـال په توګه لکه په شـکل کې چې لیدل کیږي یـوه کورنۍ له LM عوایدو سره دa د عدم رجحـان پـه قوس یا منحني باندې د P د توازن نقطې درلودونکي ده چې په نوموړي نقطه کې د Y,X توکي د متوازن مصرف ترکیب د Y1,X1 په مقدار سره ښیې.

که چیرته د کورنۍ عواید له LM څخه LM¢ته اوچت شي، په دې صورت کې مصرف کوونکي د خپـل ځـان لپاره د دوو توکیو د ترکیب نوی او غوره موقعت د B د عدم رجحان په قوس باندې د Q په نقطه کې حاصلوي او د Y,X توکي Y1,X1مقدار خریداري کولای شي.

پـه دریېمه مرحله کې که چیرته دکورنۍ عوایـد د LM” نقطې ته ارتقاع وکړي په دې حالت کـې مصرف کونکي د دوو توکیـو د ترکیب د صورت په لا غوره موقیعت کې ځای نیسي او د C د عـدم رجحان په قوس باندې د تـوازن د نقطې در لودونکي دی او د X,Y توکي د X3,Y مقدار د اخستلو امکانات تر لاسه کولای شي.



په دې اساس پورتنيو توضيحاتو ته ويلای شو چې د مصرف کوونکي د عايد د سطحي په تغير سره د مصرف کوونکي د توازن سطحه چې د دوو شيانو د مصرف د امکاناتو ښوونه کوي هم تغير کــوي او هغه خط چې د توازن دغه نقطې يعنې R,Q,P سره وصل کوي د عايد يا عايد او مصرف کوونکي د وسط يا د Enger د قوس په نامه چې د عايد د تغيراتو په اثر د مصرف کوونکي د تقاضا د توازن د خط سير استاريتوب کوی، يادېږي.

ناويــلي دي نه وي پاتې، هغه حالت چې پورته توضيح شــو د عايداتو نقطې په دوو مختلفو دورو کې ښــيې. د کورنۍ د بودجې خط پورته او ښــي لوري ته تغير کوي . بر عکس که چېرته دکورنــۍ عوايد په مختلفو مراحلو کــې تنزيل يا لړوالی مومي په دې صورت کې د بودجې د خط حرکت ښکته او کين لورې ته وي او د توازن حاصلي شوي نقطې هم نظر پخوانيو دورو ته د شيانو د لګښت دامکاناتو په نا خوښه يا نا مساعده موقعت کې ځای نيسي.


**b.د قيمت تغير:** که چېرته د کورنۍ له لوري د مصرف په موخه ځانګړي شوي عوايد په ثابته بڼه فرض شي، په دې صورت کې د مصرف کوونکي د تقاضا د منحني په وړاندې د توکيو د قيمت د تغيراتو تاثيرات تر مطالعې لاندې نيسو.

په دې ځاي کې د X,Y په نامه د توکيو دوه ګروپونه مطالعه کوو. په داسې ډول چې له دغو دواړو توکيو څخه د يوه قيمت مثلاً د Y هغه ثابت فرض شــوي په داســې حال کې چې د X توکي قيمت لړوالی مومي.

پــه دې معنــا چې د X توکي قيمت له هغې اندازي څخه چې د LM د بودجې د ســطحي په واســطه ښــودل کېدی شي د LM منځنــۍ نقطې لړوالی کړی دی چې پــه دې صورت کې مصرف کوونکی د دا ډول ارزانه توکي زياته تقاضا کوي. په لومړي حالت يعنې د بودجې د LM' په کرښه د A د عــدم رجحان په منحني بانــدې د توازن نقطه له P څخه عبارت ده چې په دې صورت کې مصرف کوونکي د X توکي X1 مقدار او Y توکي Y1 مقدار اخستلای شي.

په درېيمه مرحله کې چې د X توکي قيمت تر پخوا ښــکته شــوی دی نو لکه څنګه چې د Y توکــي قيمــت ثابت دی، د تقاضا مقدار هم تغير نکوي. په دې صورت کې د بودجې خط LM' ته تغير ورکوی او د B د عدم رجحان په قوس باندې د توازن نقطه له Q څخه عبارت ده چې مصرف کوونکي ته د X توکي د X2 مقدار د اخستلو امکانات وربښي. بلاخره په دريمه مرحله کې چې د X توکي قيمت لا لړوالی مومي د C د عدم رجحان په منحني باندې د توازن نقطه R ده چې د X

توکي د مصرف امکانات د X3 په اندازه زياتوالی کوي. هغه خط چې ددغو نقطو يعنې د P, Q, R د نقطو له اتصال څخه منځته راغلی وی د مصرف يا قيمت د قوس په نامه ياديږي.



## د څلورم څپرکي لنډیز

لکــه څنګــه چې مطالعه شــول د کتاب پــه دې فصل کې مــو له کورنۍ سره پــه تړاو هغه موضوعــات مطالعــه کړل چې د اقتصاد له نظــره د کورنۍ په تعریف او پېژندنه کې شــامل دي او وویل شــول چــې یوه کورنۍ له هغه اقتصــادي واحد څخه عبارت ده چــې د خپلو اړتیاوو او احتیاجاتو په موخه اقتصادي توکي مصرف یا استعمالوي.

د کورنۍ له نظره مصرف یوازې دموادو استعمال او استهلاک نده، بلکې د خدمتونو استهلاک هم په دې کته ګورۍ کې ځای نیسي. دا هم و ویل شول چې د موخو دتحقق لپاره کورنۍ باید یو مشخص پلان ولري چې دغه پلان د عوایدو د برابرولو او هغوي د استعمال پلان په بر کې نیسي.

د فصل په اوږدو کې همدا شــان یادونه وشــوه چې د تقاضا تابع د یوې کورنۍ په تیوري کې خــورا مهــم نقش لري چې هغه په حقیقت کې د توکي د قیمت، تقاضا او کورنۍ تر منځ رابطه یا اړیکه ښیې. یعنې دکورنۍ تقاضا همیشه د اړینو توکیو د قیمت تابع ده. همدا رنګه یادونه وشوه چې څنګه کورنۍ یو توکی په بل توکي باندې عوض کړي په داسې ډول چې د اړتیاوو په رفع کیدلو او د مطلوبیت په حصول کې یې کوم تغیر نه وي راغلی.

د دې تر څنګ د کورنۍ د تقاضا په وړاندې د عاید او مصرف د تغیر اغیزې و څېړل شــوې او وویل شــول چې د قیمت او کورنۍ دتقاضا تر منځ اړیکه یوه معکوسه او سرچپه اړیکه ده. یعنې که چیرته قیمتونه لوړ شي تقاضا کمیږي او که چیرته قیمتونه ښکته شي نو د توکي تقاضا ډېریږي.

په ورته توګه د عاید او تقاضا اړیکه و څېړل شــوه چې یو تر بله مســتقیمه او نیغه اړیکه لري یعنې د عوایدو له زیاتوالي سره تقاضا زیاتیږي او د عوایدو له لږوالي سره تقاضا کمیږي.

## د څلورم څپرکي پوښتنې

۱- کورنۍ په اقتصاد کې څه مفهوم افاده کوي؟

۲- د کورنۍ د اقتصاد پلان تعریف کړي؟

۳- د کورنۍ اقتصادي پلان باید څه ډول وي؟

۴- د تقاضا تابع د څه شي ښودنه کوي؟

۵- پایه نهایې تعویض څه ته ویل کیږي تشریح یې کړي؟

۶- د تقاضا او قیمت تر منځ اړیکه څه ډول ده معلومات ورکړي؟

۷- که چیرته عواید لوړ شي د تقاضا په مقدار کې څه بدلون واقع کیږي؟

۸- د رول ګوسن قانون بیان کړي؟

۹- د تقاضا منحني ولې نزولي میل لري؟

۱۰- د عدم رجحان منحني واضح کړي؟

# سرچينې او اخځليکونه

۱- محتشم دولتشاهی، طهماسب، د اقتصاد علم مبانی اساسات، ماکرو و میکرو، چاپ پژمان، ایران کال ۱۳۸۵

۲- بابایی، حسن، د کوچنی اقتصاد د تیوری کال ۱۳۷۵

۳- د اقتصاد مبادي پوهنځی اقتصاد، کال ۱۳۸۵

۴- گروه مولفان، کلیات اقتصاد (رشته اقتصاد) چاپ دانشگاه پیام نور سال ۱۳۷۵

۵- سایت اینترنتی اقتصاد اثباتی

۶- فرهنگ، داکتر محمد امین فرهنگ، اقتصاد ملی، کال ۱۳۵۹

# د ښوونیز نصاب د پراختیا د ریاست پیغام

د پوهنې وزارت د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینیت د ښوونیز نصاب د انکشاف ریاست د ټولنې د عیني او ښکاره ضرورت په درک کولو سره چې د محصلینو او شاګردانو د درسي کتابونو په برخه کې یې تخنیکي او مسلکي رشتې درلودې او لري یې، په لومړي سر کې یې تصمیم ونیو، چې په ښــوونیزو پلانونو او درسي مفرداتو باندې بیا کتنه وکړي او ورپســې بیا د شاګردانو او محصلینو د درسي کتابونو د تالیف لپاره مبادرت او کوښــښ وکړي. د خدای(ج) په فضل او مرحمت سره او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د ښــوونکو په میړانې او همت سره د ادارې او حســابدارۍ درسي کتابونه تالیف شول تر څو په وړیا ډول د شاګردانو او محصلینو په واک او اختیار کې ورکړل شي.

د علم او معرفت له ټولو لوســتونکو، علاقمندانو، د ادارې او حسابدارۍ د مکاتبو له ښوونکو، ګرانو شــاګردانو او د تخنیکي او مســلکي زده کړو د چارو له متخصصینو او همدا شــان له ټولو څېړونکو او شنونکو څخه صمیمانه هیله کیږي، چې د دې کتابونو په مطالعې سره چې په لومړي ځل د ښــوونکو او د ادارې او حســابدارۍ څانګې د مســلکي غړو له لوري تالیف او تدوین شوي دي. د مســلکي، تخنیکــي او علمي مطالبــو او مفاهیمو د څرنګوالي په هکلــه خصوصاً د هغوی املایي او انشــایي اشــتباهاتو په اړه مونږ ته لارښوونه وکړي، ترڅو په راتلونکي کې وکړای شو، په همدې او نورو برخو کې ګرانو شــاګردانو ته له دې څخه ښه، غوره، ګټور او ارزښتناکه موضوعات وړاندې کړو.

همدا شــان له ګرانو شــاګردانو او محصلینو څخه هیله کوو ترڅو د دې کتابونو د مطالعې او اســتفادې پر مهال د هیواد اقتصادي ســتونزې، فقر او وروســته پاتې والی په نظر کې ونیسي او د کتابونو په ساتنه کې کوښښ او زیار وباسي، ترڅو د ډېرو شاګردانو او محصلینو د ګټې وړ وګرځي.

**پته:** د پوهنې وزارت- د مسلکي او تخنیکي زده کړو معینیت

د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست

د درسي کتابونو د چمتو کولو عمومي مدیریت